ګران ورور ډاکټر خوشحال حبیبي ته!

په درنښت

د پښتو ټولنې د خپرونو
پرله پسې نومره: ۲۳۶

# د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده


لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبی



د

زلمي هیوادمل په زیار

خپرونکی

دافغانستان دعلومو اکاډیمي

دژبو او ادبیاتو انستیتوت

۱۳۵۷

# د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده

دا رساله د پښتو د لیکني ادب له کنیو شعري ژانرو څخه په یوه ژانر (قصیده) بحث کوي.

په دې رساله کې پښتو قصیده له پیل نه د دولسمې پېړۍ تر اواخرو پورې څېړل شوې ده او د هغو ادبي مکتبونو چې د پښتو ادب په تاریخ کې یې دغه فورمه پالې او غځېدلې ده او پلټنه هم لري.

دا رساله لومړی په متفرق شکل د زیری په جریده کې پر له پسې خپره شوې ده، بیا د محمد هوتک د نمانځنې د غونډې په ویاړ له اخبارو راټوله او په کتابي شکل چاپ شوه.

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیتوت دغه کتاب هم د دې سلسلې د نورو کتابو په څېر چې د ثور له ستر او نه ماتېدونکي انقلاب نه دمخه چاپ شوي دي له مطبعې څخه راوویست.

د ژبو او ادبیاتو انستیتوت

«لومړی»

# سریزه

د پښتو ادبیاتو په کښېلو آثارو کې قصیده یوه زړه پورې او د څېړلو وړ اړخ دی، چې له تېرو اوو نه اته سوه کاله پر له پسې روی دی، او یوه خوږه او ښته پانګه لري.

په دې کتابګوټي کې د ادب د دې راز پانګې پر پېر اهمیت اووړی او ډول ډول او ښتونو پانګه په داسې توګه څېړنه کېږي، چې له دې پر ټې د دې ادب سره هم پر تله وسي، او د قصیده و یو نګو شاعرانو او ناظمانو فکري پانګې هم څه نه څه وپلټلی سي.

د ځه کتنې او څېړنې زمو بر داد بې تاریخ یوه کمکۍ ښا ډګه ده، او کله چې د پښتو ادب او شعر تاریخ کښېل کېږي، د دغه په ټې یو څېړ کې وي. د زلمی هېواد مل همت د ستاینې او مننې وړ دی چې د دغه رسالې په کتابي توګه سره راټولې او خپرې کړې.

هیله کېږي، چې دا کتاب به د ادبیاتو د شاګردانو ته ګټه ور وي، او نور پوهاوانو به یې بشپړ کې.

کابل، جمال مېنه ۱۵ر۸ر۵۶

پوهاند عبدالحی حبیبي

« دوهم »

# فهرست


| مخ | سرلیکونه |
|---|---|
| | **لومړی څپرکی:** |
| ۱ | قصیده څنګه او چېرې پیدا شوه؟ |
| | **دوهم څپرکی:** |
| | پښتو پخوانی قصاید |
| ۱۷ | شیخ اسعد سوری |
| ۲۶ | بېکار نندوی |
| | **درېم څپرکی:** |
| ۳۵ | د روښانیانو په ادبي مکتب کې قصیده |
| ۳۷ | دارزالی او مېرزا قصاید |
| ۴۳ | قادر داد |


درېم

سرلیکونه مخ


کریمداد بنګښ ۳۷
واصل ۵۷
اورکزی ۵۸
میرخان ۵۹
دولت لوانی ۶۲

څلورم څپرکی :

دخوشحال خان خټک په ادبی مکتب کی قصیده ۷۵
اشرف خان هجری ۸۴
عبدالقادرخان ۹۲
سکندر خان ۱۰۱
ګوهر خان ۱۱۵
کاظم خان شیدا ۱۲۱

پنځم څپرکی :

دنورو شاعرانو قصاید
خواجه محمد بنګښ ۱۳۱
علی اکبر اورکزی ۱۴۳


«څلورم»

لومړی څپرکی

# قصیده څنګه او چیری پیدا سوه ؟

قصیده دشرقي ادب یوه ډیره مهمه او ګران بها برخه ده چې دعربي او فارسي او پښتو او اردو ادب یوه غوره او ښکلې ذخیره هم دغه قصیده ده .

قصیده په عربي اصطلاح هغه مجود او منقح او متصل شعر ؤ ، چې د بیتو شمېر به یې تر ۱۶ یا ۱۷ کم نه ؤ او دا نوم دقصد له مصدره جوړ سو ، چې معنی یې استقامت او اتصال او سموالی او برابري او سوچه توب ؤ . (وګورئ ! المنجد ، ترجمان اللغه ، لسان العرب)

قصیده په عربي ادب کې تر اسلام دمخه لا موجوده وه او دا سې ښکاري ، چې قصیده په دغه موجوده شکل او تعریف عجمي ملتو له عربو څخه اخیستې ده .

دعربو له جاهلي ادبه اوس موږ ته هغه اوږ دې او خورا فصیحې قصیدې د نمونې په ډول پاته دي، چې معلقات سبعه یې بولي ، او ددغو شاعران تر اسلام د مخه په عربو کې تیر سوي وه .

عربي قصیده د ریګستان د قبایلي ژوند یو ښکلی تصویر و. شاعر به د کلو کنډو والي د معشوق پر بانډه د هوسیو خرام، او داو ښانو پر شا سفر ، او دخپل قبایلي ژوندون مناظر او دمجو باساده حیات، او عشق په عربي فصیحو او بلیغو بیاتو کې تصویر کول ، او هره قصید به هم له ۱۶ تر سلو بیتو پورې رسیده . په قصیده کې به حماسي مناظر هم تصویر کیده ، او د عربو قصیده د بني‌ـ امیه تر خلافته پورې هم په دغه بدوي خاص عشیر وي رنګ او فصاحت کې و ، خو چې د خلافت مرکز له دمشقه بغداد ته را نقل سو ، او د عجمو د مدنیت او کلتور او ثقافت اثر په عربي ادب کې ښکاره سو ، نو د لته قصیده هم په عجمي فکر او رنګ رنګېدله ، او مخصوصاً د خراسان او افغانستان عربي ویونکو شاعرانو په عربي قصیده او ادب خپل خاص کالي اغوستله . که دا خبره د تحقیق وړ ده



چې د خراسان خلقو تر اسلام د مخه قصیده درلوده که یه ؟

د اروپا ځینو محققانو چې پر دې خبره با ندې تحقیقات کړی دی ، له دوی څخه کریستن سن او هیننګ داسې وایي :

«چې د فارسي ژبې د نظم قواعد له عربي څخه نه دي اخیستل سوي ، بلکه تر اسلام د مخه د وی داسې قواعد درله او ښایي چې عربو هم د جبره دولت په وخت کې د شاعري صنعتونه له دوی څخه زده کړي وي» .

البیروني د غزني مشهور عالم او محقق په خپل کتاب‌ـ الهند کې د خلیل بن احمد د عروضي قواعدو ، او د سنسکریت د قدیمو اوزانو او د شعر د لاروچارو ترمنځ ډېر مطابقت او شباهت بیانوي ، او بیا نو وايي ، چې ښايي خلیل بن احمد به د عربي عروضو په ترتیب کې د سنسکریت د اوزانو قواعد اور یدلي وه !

له دغو روایاتو څخه ښکاري چې په خراسان کې تر اسلام د مخه شعري اوزان موجود وه ، او لکه د اروپا پوهانو چې تحقیق کړی دی ، د پهلوي منظومات او اشعار هم یوازې پر هجایي اساس ولاړ نه وه ، بلکه نور

اوزان اواقسام یې هم درلوده، او لکه څېنو پوهانو چې کښلی دی، دپهلوی یو زوړ نظم (شه و هرام ورژ اوند) قصیده ده چې هره مسری یې ۱۲ هجا وی او قافیه لری.

دغسی هم د پهلوی هغه قدیم متن چې جاماسب اسانا چاپ کړی دی، قصیده ده، چې مطلع یې دادی:

دارم اند رزی از دانا گان
از گفت پېشېنگان ...

ددی قصیدې بېتونه ټول په آخرکی د(ان) قافیه لري (وزن شعر فارسی ص ۳۵). له دې پښوا نو اسنا دو څخه ښکاری، چې تر اسلام دمخه خراسانیانو او پارسیانو قصیده درلوده، او کوم وخت چې دوی په دری خپل قصاید نظم کړه، نو دوی په دې فن کی قدیمه تجربه او مهارت درلود او پاخه وه.

په دری هم لومړی قصاید په سیستان کی ویل سوی دی، چې دافغانستان - دپښوانی ثقافت او ادب په غېږ کې پرورښت کیدیء. دهجری ۲۵۰ کال په شاوخوا کې یعقوب لیث په سیستان کې د افغانستان د آزادی بیرغ وڅراوه او



ځان یې د بغداد دخلافت له تسلط نه خلاص کیء. ده غوښته چې د خپل وطن استقلال او عظمت او پښوانی کلتور وساتی. یوه شاعر دده په ستاینه کی عربی قصیده نظم کړه، یعقوب هغه ته و ویل: «داسی خبری ولې کوی چې زه نه په پوهیږم» دلته نود یعقوب د دربار لوی منشي ولاړسو، او په دری یې یوه قصیده و ویله، او پس له دې به نوشاعرانو په عربی قصیدې نه ویلې، بلکه د دوی په خپله ژبه بهوې.

دسیستان تاریخ دغه ابتدایی قصاید په تفصیل لیکی او موږ ته راښیی، چې د قصیدې د پرورښت ځای دغه زموږ افغانستان دیء.

## دهرقی قصیدی موضوع

قصیده په دری ادب کې ډیره دستاینی اومدح لپاره لکه دعربو قصیده استعمال سوه. په سامانی اوغزنوی دوره کې دد رباری شاعرانو په خوله او قلم داسی د لویانو او پاچهانو په ستاینه کې وسرووړله سوه، چې په دغه دوره کې بی له مدح اوستاینی بل څه لږ پکی لیدل کیږی.

درودکی، فرخی اوعنصری اومنو چهری اومنجیک

اوزان او اقسام یې هم درلوده، او لکه څینو پوهانو چې کښلی دی، دپهلوی یو زوړ نظم (شه و هرام ورژاوند) قصیده ده چې هره مسری یې ۱۲ هجا وی او قافیه لری.
دغسی هم دپهلوی هغه قدیم متن چې جاماسب اسانا چاپ کړی دی، قصیده ده، چې مطلع یې دا دی :

دارم اندرزی از دانا گان
از گفت پېشینگان ....

ددی قصیدې بېتونه ټول په آخرکی د(ان) قافیه لري (وزن شعر فارسی ص ۳۵). لەدې پخوانو اسنادو څخه ښکاری، چې تر اسلام دمخه خراسانیانو او پارسیانو قصیده درلوده، او کوم وخت چې دوی پەدری خپل قصاید نظم کړه، نو دوی پەدې فن کی قدیمه تجربه او مهارت درلود او پاخه وه.

په دری هم لومړی قصاید په سیستان کی ویل سوی دی، چې د افغانستان دپخوانی ثقافت او ادب پەغېږ کې پرورښت کېدیء.
د هجری ۲۵۰ کال په شاوخوا کې یعقوب لیث په سیستان کې د افغانستان د آزادی بیرغ وڅراوه او



ځان یې د بغداد دخلافت له تسلط نه خلاص کیء. ده غوښته چې د خپل وطن استقلال او عظمت او پخوانی کلتور وساتی. یوه شاعر دده په ستاینه کی عربی قصیده نظم کړه، یعقوب هغه ته وویل: «داسی خبری ولې کوی چې زه نه پوهېږم» دلته نود یعقوب ددربار لوی منشی ولاړسو، او په دری یې یوه قصیده وویله، او پس لەدې به نوشاعرانو په عربی قصیدې نه ویلې، بلکه ددوی په خپله ژبه بەوې.
دسیستان تاریخ دغه ابتدایی قصاید په تفصیل لیکی اومونږ ته راښیی، چې د قصیدې د پرورښت ځای دغه زموږ افغانستان دیء.

## دهرقی قصیدی موضوع

قصیده پەدری ادب کې ډیره دستاینی اومدح لپاره لکه دعربو قصیده استعمال سوه. پەسامانی اوغزنوی دوره کې دد رباری شاعرانو پەخوله او قلم داسی دلویانو او پاچهانو پەستاینه کې وړوړله سوه، چې په دغه دوره کې بی لەمدح اوستاینی بل څه لږ پکی لیدل کېږی. درودکی، فرخی او عنصری اومنو چهری اومنجیک

او غضایري او نورو مشهورو شاعرانو قصایدچې وینو په سل کې نه‌نوي د مقتدرانو ستاینې دي. مګر په همدغه غزنوي عهد کې حکیم ناصر خسرو بلخي د قصیدې مخ له تشې مداحۍ څخه د حکمت او موعظت خواته وګرځاوه او قصیده یې د اخلاقي تبلیغ او اجتماعي او دیني اصلاح او د فلسفې او حکمت په ګرانبها مرغلرو ځړاوکړه. ناصر د دې مهم کار اساس کښېښود او حضرت حکیم سنایي غزنوي پسې تکمیل کړ. ده هم له مداحۍ څخه ځان وژغوره او قصیده یې د اخلاقو او موعظت او حکمت او تصوف او انساني ښېګړو په ستاینه ښایسته کړه، او دا ښکلې محبوبا یې له درباره راوایسته، او د درویشانو په خانقاه، د دردمندانو په کوډله، د عارفانو په درګاه او د رندانو په بزم کې ودروله. د لته نو موږ ګوروچې هغه درباري قصیده اوس روحاني ښکلې نغمه سوه.

په هغه غزني کې فرخي قصیده د سلطان محمود په ستاینه کې په داسې مبالغه آمېزه وېناډ کوله:

شهنشاهی که شاهان را زدیده خواب بربا ید
زبیم نهیب گرزش به جابلقا و جابلسا



دل خارا زبیم تیغ او خون گشت پنداری !
که آتش رنگ خون دارد چو بیرون آید از خارا

سنایي په دغه قصیده د اسې ښکلي روحاني کالي واغوستل:

از ین مشت ریاست جوی رعنا هیچ نگشاید
مسلمانی ز سلمان جوی، و درد دین ز بودردا
به صاحب دولتی پیوند، اگر نامی همی جویی
که از یک چاکری عیسی چنان معروف شد یلدا

قصیدې په عربي ادب کې خاص تکنیک درلود، او د قصیدې ویلو آداب او فني لارې چارې بېلې کړې او ټاکلې وې. قصیده به په یوه تشبیب یا نسیب شروع کېده، دا تشبیب به د معشوقې مینې او شوق او عشق ستاینه یا به د شاعر د احوال بیان ؤ. نسیب په عربي لغات کې هم د معشوقې د ښکلا و وصف او د محبت او مینې بیان دی، (د المعجم في معاییر اشعار العجم ٣٠٦ مخ) د اغاني په روایت په اسلامي دوره کې د نسیب ګویانو امام جمیل بن معمر هغه عاشق شاعر دی، چې د عبدالملک بن مروان معاصر ؤ، او خلکو به هم په دغه سبب امام المحبین باله (الاغاني ٧–٨) ځینو شاعرانو

به د خپلو قصیدو په تشبیب کې د ځینو ښکلو پیغلو توصیف کاوه، او هغه به داسې خوښی سوې، چې شاعر به یې مینه کې ډوبه کړه. لکه نصیب چې د عبدالعزیز بن مروان مریی و په تشبیب کې یوه ښکلې نجلۍ (هند) وستایله او هغې دی په خپله مړوښی ومانه (آداب اللغه) دا نسیب په دری قصایدو کې هم د غه ډول لیدل کیږی، خو فرق یې دو نی دی، چې د عربی ادب د نسیب موضوع د معشوقې ښکلا او جمال دی، مګر د غزنوی دورې د قصایدو تشبیب د شاهد یا نګار یا صنم په وصف جړاو کیږی.

مثلاً د غه نصیب وایې:

ارونی قبا النظر الیه فاننی

احب قبا انی رایت به هندا

یعنی ماته قبا (غر) راوښییء، دا غر پر ما ځکه ګران دی چې ما هلته د هند (خپله معشوقه) لیدلې وه. فرخی سیستانی د سلطان محمود د یوه وزیر په مدح کې د قصیدې تشبیب داسې شروع کوی:

بردم این ماه به تسبیح و تراویح بسر

سن و سیکی و سماع خوش آن ماه پسر



مګر د فارسی قصیدې تشبیب پر دغه حال محسور نه سو پاته چا پیرا و ثقافت او زمانې پر هغه باندې اغیزه وکړه، او دا ځکه چې د خراسانی شاعر په مخ کې د طبیعت ښکلې منظراو د کوهسار ښایسته لمنې، د ګلشن او چمن تازه هوا وې او د بلبلانو خواږه رغونه او داو بوټك بها نده سیندونه او داسې نورې ښکلې منظرې پرتې وې، نو له د غو لیدنو څخه هم شاعر د قصیدې په تشبیب کې کار واخیست او د خپلو قصیدو ډیل یې په پسرلنیو مطالعو کې ء، مثلاً د فرخی دیوې قصیدې تشبیب داسې شروع کیږی:

برآمد نیلگون ابری ز روی نیلگون دریا

چورای عاشقان گردان چوطبع بیدلان شیدا

د ابوالفرج رونی د یو تشبیب مطلع د غه ده:

نوروز جوان کرد بدل پیر جهان را

ایام جوانیست زمین را و زمان را

د شرقی ادب د قصیدې د غه خاص رنګ ؤ چې شاعر به په نسیب یا تشبیب قصیده شروع کړه، او پس له د غه به یې د خپل شعر آهنګ او مضمون داسې ترتیب کړ چې د خپل ممدوح ستاینې ته د یوه ګریز لاروموی. د لته د شاعر

وظیفه درنیده ، ځکه دا گریزبا ید په داسې ډول سوی وای، چې ډېر ښایسته او مناسب او په زړه پورې وای .
دغه حال ته یې په ادبی اصطلاح (حسن تخلص) هم وایه چې کله کله به دغه گریز او تخلص پر(حسن طلب ) او دعا ختمیده او قصیده به هم ورسره تما میده .

دا ټول مراحل یعنی تشبیب او تخلص او حسن طلب او دعا دشاعر په مهارت او استادی اړه درلوده ، چې څنگه یې ادا کوی .

او کوم کوم الفاظ اومناسب او په زړه پوری مضامین پکی ځا یوی . داسې قصیده په ادبی اصطلاح مشببه بلله کیده چې بی تشبیبه قصیده به یې مقتضبه بلله .

## پښتو قصیده هم پخوانۍ ده

ترډېره وخته دېو هانو داخیال و ، چې په پښتو ادب کې د قصیدې آغاز له خوشحال خان خټکه دی. مگر کوم وخت چې دمحمدهوتک پټه خزانه زمالاس ته راغله نوښکا ره سوه ، چې ترخوشحال خان دمخه هم دپښتو قصیدې خپل ځلاندە مراتب تیر کړي دي .

د قصیدې د نشوونما او پیدا یښت زانگو خوما وویل چې زموږ وطن دی پهلوی او دری او فارسی قصیدی



توله په دغه ادب خیزه مځکه کې روز لی سوی وی او پښتو قصیده هم په دغه مځکه کی پا للی سوی ، او دا ښکلی او گلالۍ غوټۍ په همدغه بڼ کې غوړ یدلی ده .
دپښتو تر ټولو قدیمه قصیده چې دمحمدهوتک په همت موږ ته رارسیدلی ده ، دسلطان محمود په عصراړه لری اوددې قصیدې له براعت اوبلاغته داسې ښکاري چې په پښتو ادب کې تردی دمخه قصیدې ډیرپخوانی مراحل تیر کړی وه، چې د(۴۰۰ ه) په شاوخوا کې و دې پخوالی او براعت او فنی اعتلاته ورسیده .

محمد هوتک دا قصیده د شیخ کته د«لرغونی پښتا نه» د کتا به رانقلوی ، چې دغه شیخ هم له تاریخ سوری څخه را اخیستې وه . دا قصیده په پښتو بولله یادەسوی ده او داسې ښکاری چې په پخوانی پښتو کې یې قصیده بولله بلله .

دغورسوری پاچهان خوتر اسلام دمخه هم په دغو غروکی د برم خاوندان وو ، کوم وخت چې دسبکتگین کهول پرغزنی مسلط سو ، نو دسلطان محمود او د دغی غوری کورنی په منځ کې اختلاف پیداسو ، او په دغه وخت کې دغورتواك امیرمحمدسوري و ، چې دمورخینو

په قول په (۴۰۱ یا ۴۰۵ هـ ق) کال سلطان محمود دی په آهنګران کې ونیوی او هغه له ډېره غیرته زهر وخوړه او ځان یې مړ کړی (طبقات ناصری ج ۱، ۱۷۲ بیهقی ج ۱ ص ۱۱۷ او الکامل ۹-۹۹).

د دې غوری امیر په دربار کې دوه پښتون شاعر اوسېدی چې نوم یې شیخ اسعد بن محمد سوری ؤ او محمد هوتک د پخوانو کتابونو ارغونی پښتانه او تاریخ سوری په حواله د ده مرګ د زمین داور په بغنی کې په ۴۲۵ هـ ق کال ښوولی دی.

شیخ اسعد د امیر محمد سوری په ویرنه یعنی رثا کې یوه اوږده بولله یعنی قصیده وویله، چې ۴۴ بیته ده او تر اوسه چې موږ په پښتو ادب کې معلومات لرو دغه قصیده تر ټولو زړه او پخوانۍ بولله ګڼله کېږی او د ژبې ډېره ارغونی پنګه او ادبی توښه راښیی.

## د مضمون له پلوه د قصیدې اقسام

قصیده د مضمون له پلوه ډېر اقسام لری. د عربو قصیدې، خو په جاهلیت کې په حماسی ویاړونو او قبیلوی افتخاراتو او عشقی احساساتو بنا کېدې، مګر په اسلامی



دوره کې خاص ښاد عباسی دربار او امیرانو په مخ کې قصیده، د مدح او انعام ګټنې ذریعه سوه.

په دری کې مدح تر هر څه د مخه د قصیدې غایه او هدف وه، او عاشقانه تشبیبونه صرف د قصیدې د ښکلی کېدو لپاره ؤ، او د مینې له خلوصه او تودو جذباتو څخه تر هغه خالی وه، چې سنایی په قصیده کې د روحی او ملکوتی، جذباتو اور او حرارت پیدا کاوه.

د مخه مو ویلی وو: چې کوم وخت په افغانستان کې یعقوب لیث د آزادۍ ښکلی بیرغ د سیستان د زرنج په شاهی ماڼۍ وررپاوه، هم په دغه وخت کې پارسی قصیده د دربار همدمه سوه، او په خوښۍ او نشاط، په جنګ او روغه او ستاینه او ویرنه کې د شاعر د لاس ډېره کار آمده او په زړه پورې متاع وه. کله به یې د عیش او نشاط او جمال دوستۍ بزمونه په قصیده تودول، کله به یې د زلمی د جنګو پر ډګر په قصیده پالرول، او کله به یې په ټوکو او هزالی، د همدې قصیدې په وسیله، خلق خندول، خو کله کله به د پاچایانو او امیرانو د مړینې پر وخت د ویر او عزا او رثا په ټولنو کې هم قصیده اروېدله کېده.

مگر د رثايي قصيدې او ويرني رنګ بيل ؤ، دلته به شاعر خپل هنر او د وينا کمال او قوت هسې په کار اچاوه، چې هغه د مرګ واقعه به يې ډيره هولناکه او غمجنه او د وير او ژړا وړ ښووله. د خلقو د ژړا او ويرا وساندو او کريږو مناظر به يې تصوير کول.

ښايي چې په دري ادب کې هم دغسې ويرنې د مخه لاوې، خو اوس موږ ته فقط له رودکي څخه د رثا ځينې شعرونه پاتې دي او تر ده وروسته نو مرثيه ويل عام سوي دي.

د رودکي مراثي اوس د قطعاتو په شکل کې پاتې دي خو ممکنه ده، چې په اصل کې به قصايد وه، او نور بيتونه به يې ورک سوي وي. دا بيتونه له هغې ويرنې څخه دي چې رودکي د خپل يو هم عصر شاعر مرادي په مرګ د ۳۰۰ ه په حدود کې ويلې وه:

مرد مرادی نه همانا که مرد
مرگ چنان خواجه نه کاریست خرد
جان گرامی پدر باز داد
کالبد تیره به مادر سپرد



ان ملک با ملکی رفت باز
زنده کنون شد، که تو گویی بمرد
کاه نبد او که ببادی پرید
آب نبد او که به سرما فشرد
شانه نبد او که به مویی شکست
دانه نبد او که زمینش فشرد
گنج زری بود درین خاکدان
کو دو جهان را به جوی می شمرد
قالب خاکی سوی خاکی فگند
جان و خرد سوی سموات برد
صاف بد آمیخته تا درد می
برسر خم رفت و جدا شد ز درد
در سفر افتند به هم ای عزیز!
مروزی و رازی و رومی و کرد
خانهٔ خود را باز رود هر یکی
اطلس کی باشد همتای برد
«خامش» کن چون نقط ای ملکا
نام تو از دفتر گفتن سترد

# دوهم څپرکی

# پښتو پخواني قصايد



د ادپارسي مرثيې يوه لوړې نمونه ده، چې بې ځايه تکلف او تصنع نه لري او ښايې صفا او روښانه او سپېڅلې ده او شاعر خپل احساسات په زړه سوي او صميميت پکې ځای کړي دي .

په رثايي قصيده کې البته تشبيب نه ځائيده، او نه د تغزل وخت وُ. نو پخوانو شاعرانو به لوړې پلا په خپل مقصد او دوير په خرګندولو پيل وکړ. خو وروسته چې رثا هم درباري او تشريفاتي شوه، نو د رثايي قصيدې آغاز او انجام هم ځينې خاص صفتونه وموندل، مثلاً فرخي د سلطان محمود پر مرګ باندې د غزني د ښار مناظر او د ويرني مراتب په دې قصيده کې تصوير کوي :

شهرغزنين نه همانست که من ديدم پار

چې فتاده است که امسال دګرګون شده کار؟

خانه ها بينم پر نوحه و پر بانګ و خروش

نوحه و بانګ و خروشي که کند روح فګار

## د امیر محمد سوري په ویرکې
## د شیخ اسعد سوري بولله

په تیر بحث کې په پارسي رثا خبري وسوې، او دادی اوس په پښتو ادب کې په رثا یې قصیدې خبري کیږي :

د شیخ اسعد سوري قصیده هم یو راز خاص فني غاز او ترتیب لري. دی په خپله ویرنه کې د فلک په شکوه پیل کوي او د آسمان د گردش اثرونه په کائناتو کې ښیي.

د قصیدې اوله برخه دغه تمهید دی، چې د خوښې د قصیدې د تشبیب ځای یې نیولی دی. د لته شاعر د خپل مقصد په څرګندولو او اداکې ډیر قدرت ښکاره کوي د د بیته وایي، او د فلک د تیري او ظلم مناظر ښیي، او دا تمهید په استادي داسې ږدي :

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زموږ لوی هر گل چې خاندی په بهار

هر غټول چې په بېدیا غوړېده وکا
رېژوي یې پاڼې کاندی ژار په تار

ډېر سخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندی زار

د واکمن له سره خول پرېباسي سړسي
د بې وزلو وېنې توی کاندی خونخوار

چې له برمه یې زمري رپي زنګلو کې
له او کو به یې ډاری تیرو جبار

هم یې غشي سکني ډال د ژبلو رو
رستمان ځنې ځغلا کاندی په ډار

چې یې ملاوې نه کړېږي په غشتلیو
دا فلک پرو کا څه کاری گذار

په یوه گردښت یې پری باسي له برمه
نه یې غشي نه لیندی وی نه یې سپار

تر دې ځایه د قصیدې تمهید په تدریجي ډول تر مطلبه پورې را رسېږي. اوس نو شاعر غواړي، چې



د دغو تېرو اوظلمو تربیان وروسته، پخپله د فلکه سره وینا وکې. په دغو تېرو بیتو کې خوشاعر له یوه غایبه حکایت اوشکایت کاوه، مگر وروسته له غایبه مخاطب ته التفات کوي، او دا هم یو فني ترتیب دیء، چې لوسړی د گیلی اوشکوې آغاز له غایبه وسی او داسی فرض کړای سی، چې گویا هغه هلته نسته او نه اروی، اوشاعر هم نه غواړي، چې خپله شکوه د هغه غوږو ته ورسوي. مگر وروسته چې دده تأثر ډېرېږي، او حوصله یې هم تنگېږي، نو لکه په غشي ویشتلی زخمي پراصلي ویشتونکي باندی حمله کوي او فلک له غیابه حضور ته راولي، او له هغه سره خپلی گیلی اوماني حضوراً وایي. دا التفات په صنعتي لحاظ دلته ډېرخوږ اومفید دی، چې پس له یوه تمهیده له غایبه مخاطب ته التفات کوي، دلته فلک ته په یوه احتجاجي مخاطبه داسی ښېل کېږي:

څه تېری، څه ظلم کا ندې ای فلکه!
ستا دلاسه نه دی هیڅ گل بې له خار
په ویرژلو، لورنه کړی په زړ کراړیه
پر نتلیو او روې دغم ناتار

دامخاطبه هم یوولس بیته‌ده ، اوپه ړول ړول د فلک جفا اوتېری څرګندوی ، اوپه پای کې په ډېره استادی اومهارت خپل مقصدته ګریز او تخلص کوی اودا مرحله له‌ادبی معا ییرو سره با لکل سمه‌ده اوپه ادبی اصطلاح «حسن تخلص» ورته ویلای سو ، وایی : ای فلکه !

کله غورځوی واکمن له‌پلازونو
کله کښېنوي په‌خاوروکی بادار
زموږ پرز ړونودي نن بیاغشی‌وویشت
ودي ژوبلله په‌دي غشی هزار
پرسوریو باندي‌ویر پریوت له‌پاسه
محمدواکمن چې‌ولاړی‌ء په‌بل دار

دلته اسعد د امیر محمد عدالت او کردار ښیی او بیا دده پر اسارت او مرګ افسوسونه کوی :

په‌دی ویرد غوروګړی تورنمری‌سول
په دې ویر ، رڼا تیاره سو له دښار
ګوره څاڅی رڼی‌اوښی له دې غرونو
داکړونکی ساندې لی په شورهار



شاعر دلته‌طبیعت ته‌رجوع کوي ، اودغورښکلی‌مناظر په‌دې ویرجنه پېښه کې هم نه‌ځنی هیریږی، اوچا پېر دشاعر په‌طبیعت داسی جلوه ګري کوي :

نه هغه زرغاد غرو نو د بید یا ده
نه‌دزر کیو په مساد ی ء کتهار
نه غټول بیا زر غو نیږی په لاښونو
نه‌با سی بیا مسیده کا په‌کهسار
نه له‌غرجه بیا راځی کاروان دسبکو
نه‌را دروسی غورته بیا جوپی دښار
د پسرلی اوره تودی اوښی تو یږه
مرغلرې په نیسان نه کړی نثار
داپه‌څه ؟ چې‌محمد ولاړ له نړ یه
په ویرنه یې‌سو غور ټول سو ګوار

وګوریء! دلته دطبیعی شعر ښکړی ښی څرګندیږی . دشاعر تکیه ټوله پرطبیعت ده‌او خپل نظر پر طبیعی مناظرو باندې ځغلوی او په دردا‌او ویرکی هم خپل چاپېر اومحیط نه‌هېروی .دسا ندو،اوکو کا روپروخت هم دغور غرونه، اودښتونه، ان دسروغا ټولو فرشونه

اود سپېکو کاروانو نه، اود پسرلی د بارانو مرغلرې شپندنه، او د زړکو کټهاراو د ګلونو مسا یادوي، او دا ټوله د محیط او طبیعت یوه ښکلې ترجماني ده. د لته تاسې د فرخي هغه قصیده هم ولولئ! چې د سلطان محمود د پرمرګ پې ویلې ده. دا شاعر د خپل محیط ترجمان او د ښارو الو د احساساتو او احوال مصور دئ او داسې وایي:

شهر غزنین نه‌همان است که‌من دیدم پار
چی فتاده است که امسال دگرگون شده کار
خانه ها بینم پرنوحه وپربانګ وخروش
نوحه وبانګ وخروشی که کند روح فګار
کویها بینم بر روی زنان همچو رمان
چشمها کرده زخونابه بر نګ ګلنار
حاجبان بینم خسته دل و پوشیده سیه
کله افګنده یکی ازسرو دیګر دستار
مطربان بینم ګریان وده انګشت ګزان
رود ها برسرو بر روی زده شیفته وار

فرخي یوه ښاري اود رباړی شاعر ؤ، د ده د تفکر او تخیل



مجرا هیله وه. په کوم ځای کې چې اسعد د غرو ښکلاو ښایسته مناظر په‌سا ندو کې هم تصویر کول، د لته فرخي د غزنی د کوڅواو کوروجال څرګندوي چې خلق و په ژړاژړا د لته او هلته ځغستل، او مهترانو خپل مخونه په څاپېړو وپړسول، حاجبانو خولی او لنګوټی ورکی کړې، او پرمانو سرناوې او دوبکی پرخپلو سرو او مخو باندی د لیونو په څېر ووهل.

د دواړو قصیدو د غه فرق ته ځیرسئ چې د غه خصایص په ټول ادب کې ښکاره کیږي. د قصیدی د غه آخر بیتونه هم هغه ښکلاو ښایست او ځانته رنګ لري:

نه ښکار یږي هغه سور دسور په لتو
نه ځلیږي هغه لمر پر دی دیار
چې به نجلیو په نڅا پکی خندله
چې به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه‌غور په‌ویر، ناتار د واکمن کښېنوست
هغه‌غورسو د جاندم غوندی سوراړ

د لته نوشاعر د قصیدې مخ ګرزوي، او بیا له فلکه سره داسې د زړه‌له درده وینا کوي:

لاس دې مات سه ای فلکه چې دې وکا

محمد غوندی زمری د مړ ینی ښکار

په وروستیو بیتو کې شاعر خورا تند یری او دویر

اورنی او تند احساسات په مهارت ښکاره کوی :

شین زړ گی فلکه ! ولی لا ولاړ یې

ای دغور غرونو په څه نه سوی غبار

مځکې ! ولی په ریږ دلو نه پر یوزې

لاندې باندې سه چې ورکسی د اشعار

چې زمری غوندی واکمن ځی له جهانه

چې څوك نه کړی په نړی باندی قرار

د فرخی د قصیدې پای د سلطان محمو د مړه په ویناوو

کې داسی دی :

زینت و قیمت و مقدار جهان را بتو بود

تا تو رفتی زجهان این سه برون شد یکبار

شعرا را بتو بازار ، بر افروخته بود

رفتی و با تو بیکبار شکست آن بازار

دلته خو هم فرخی خپله استا د ی ښوی او قصیده

په مهارت تماموی ، مگر د لوړه بیته څخه لږ څه تو زنه



هیله هم ښکاری چې ښایی شاعر په دغه ویر کی د خپل

بازار کوته والی هم نه ؤ هیر کړی ، او د ایو ډول

ځانګړانی او طبقاتی شعور دی چې په یوه عمومی ماتم

کې نه ښایی ·

اما اسعد خپله قصیده په بل ډول پای ته رسوی او

بلهنتیجه ځنې اخلی چې یو ډول ملی غرور او ننگ او

اجتماعی شعور ځنې ښکاری ·

دلته د پښتنو عنعنوی ننگه یا نیږی او د سوری تبر

ویاړنه پر بنا کیږی ، چې په اجتماعی او اخلاقی لحاظ

مهمه ده ، دی وایی :

سخ په تا ای محمده ! د غور لمر وې

په نړی به نه وی ستا د عدل سار

ته پر ننگه وې ولاړ په ننگه کی مړ سوې

هم پر ننگه دې پر ننگه کا ځان جار

که سوری دی په مرګ و یر کاندی و یرمن سول

هم به ویاړی ستا په نو م ستا په تبار

داؤ د پښتو د هغی پخوانی قصیدی تحلیل چې تر د غی

د مخه موږ اوس بله زړه قصیده په لاس کې نه لرو ·

## په غوری دوره کې دښکارندوی قصیده

دپښتو قصیده خود زمانې په رنګ ورنګیدله ، اوله خپل چاپېرڅخه یې ډیرڅه په ځان کې ومنله . دعربی اوپارسی ادب اغیزې ښې پکې ښکاره سوی ، سګر بیا یې هم خپل سبک او آهنګ اوخصوصیات خوندی کړل .

د شیخ اسعدد غزنوی دورې تر پخوانی قصیدې وروسته موږ ته دغوری ښکارندوی یوه دستاینې بولله ، بیا هم په هغه پټه خزانه کې دد رنومرغلرو په ځیر راپاته سوی اوخوندی سوې ده ، اودا ښکارندوی هغه پښتون ستایوال اوپیاوړی شاعر دی ، چې د (۵۸۰ ه ق) کال پهشا وخوا کې دغور په دربارکی اوسیدیء ، او محمدبن علی د تاریخ سوری لیکوال دده ، دبوللو یو غټ دیوان په بست کې لیدلی و (پټه خزانه) . دغوروله تاریخی لوړ تیا اوعظمته ، اودسورله درنې شاهنشاهی کورنی څخه اوس موږ ته تشی دښا رو کنډ والی ، او د فیروز کوه یوجګ مینار پاته دی ، چې دد غو پښتنو صنعتی ذوق او دعمران لیاقت ځنی څرګندیږی . خو دد غو پاتوآثارو سره سره دشیخ اسعداودښکا رندوی ان بې مرغلرې هم د بلیغو اوغرا قصا یدو په لړکې د پښتوادب



پر خول پاندې په ډیر ځلا اوړنا بریښی .

دسوریانو ددرنی کورنی نامتو بریالی ، او د هند فاتح سلطان معزالدین یا شهاب الدین خو دسلطان محمود په ځیر په وارو وارو د هندپرلور لښکرې بیولی او هلته یې داسلام او عدالت او اخلاقو او تهذیب رڼا خپره کړې ده . (طبقات ناصری)

داسی ښکاری چې ښکارندوی دده ددربارستایوال شاعرهم په دغوجنګی سفروکی ورسره ملګری و ، او کله چې شهنشاه پرا باسین باندې تیریدیء ، نو ښکارندوی دده په ستاینه کې یوه قصیده ویلی وه .

داقصیده په پورتنی فنی دودله یوه پسرلنی تشبیبه شروع کیږی ، او شاعر خپل نهایی قدرت د پسرلی د مناظرو په تصویرکی ښکاره کوی . کوم حیات ، کوم حرکت ، کوم نشاط اوښورښت چې د پښتو نخوا په پسرلی کې سته ، او دپارسی شعرد قصا یدود تشبیب یو ښکلی او په زړه پورې ژیوردی ، په دغه قصیده کې هم پروت دی لکه چې وایی :

د پسرلي ښکلونکی بيا کړه سينګاروونه
بيا يې ولونل په غرو نو کې لا لوله
مځکه شنه، لاښو نه شنه، لمنې شنې سوې
طيلسان زمرد ی وا غوسته غرو نه

د نسيب ادبي او فني لوازم او ښيګړ ی خو دادي چې شاعر، خپل مقصد ته يوه ډېره مناسبه اوسمه لار پيدا کې، اوخپل اوريدونکی په خوږو الفاظو اوپه زړه پوری مضمون داسې راکښېيا سي، چې د ده هغه اصلي مقصد په پوره زړه اوسطمئن نفس واروی. د قصيدې مضامين سره پوري اومتناسب وي، استحال عقلي ونه لري (المعجم فی معاييرا شعارالعجم).

درانه اوخواتوری کلمات پکی نه وي او که ستا ينه کوي هغه هم په داسې ډول وی چې ادب، نزاکت د مادح اوممدوح مقام په کی خوندی سوی وی. دښکارندوی د قصيدی نسيب خو يو دښکلا بهير، او دجمال انځور او دښا يست ېيخی ښه منظردی. هر بيت يې په خپل ځای ښه ښکاري، او دښکلا ترجماني کوي، مثلاً د ګلو ښه بوی خوهرځوك ستايي، مګردغه مقصد په فني ډول او لطيف تشبيه سره ادا کول، د پياوړی شاعر کاردی. وايي:



هر پلو د ګلو ويږم دی لوتلی
ته وارا غلله له ختنه کاروانونه

دلته دپښتو د تشبيه له نازکو آد اتو څخه ته وا داسي لطافت لری، چې دختن د کاروانو ويږمی ډيری خوندوري کوی، او مضمون دحقيقت خواته نږدې کوی. له اغراقه يې پاکوی. ځکه چې اصلاً خود ختن کاروانونه او هغه هم په مشکونو بارنه دی راغلي. مګر شاعر په خپل ادبي اعجاز د پسرلي له ګلو څخه دغسی ويږم تون جوړوی.

دقصيدې خورا دقيق او دځيرتيا په ځای هغه د ی چې شاعر خپل مقصد ته څه کوی، او غواړي چې ستاينی اوويرنی يا کوم بل مقصد ته مخه کی. په فني ژبه دغه تخلص يا ګريز دشاعر په مهارت اړه لري، چې رکيك اوسپك نسی. منوچهری، د يوه نوروزي اوبهاري نسيب په پای کې دخپل ممدوح بوسهل زوزني ستاينی ته داسې د ګريز لاره موسی:

شاخ بنفشه برسرزانو نهاده سر
ما نندهٔ مخالف بوسهل زوزنی

داتخلص خوښا هرآ ۀ پرېښه او ما هرانه ښکاري ، مگر په انتقادي نظرخوا ېږ، څه سپکې هم لري . ځکه که دلته د بوسهل ز وزني مدح مطلب وي ، نو دده دښخا اف تشبيه له شاخ بنفشه سره چې ډېر دلچسپ او ښکلې او لطيف شي دی ، ناوړه خبره ده .

خود ښکارندوی تخلص، دحسن ادا اوصنعتي لطافته ډک دی، او دلته د بلبل ستاينې چې د پسرلي د گلو په مدح کې خواږه ږغونه راباسي يادوي ، او په يوه خوږه تشبيه داسې د گريز لاره ځان ته پيدا کوي :

نه به چونې په ستاينه د جنډ يو موږسي
نه به موږ سم دسلطان په صفتونه
د شنسب د کېها له ختېلي لمر دی
د پسرلي په دود ودان لهده رغونه

تر دې وروسته شاعر دستاينې ږ گرته وردانگي ، او داستاينه ټوله رزمي رنگه لري او دغوري سلطان مړانې ، لښکرکشې ، برياليتاوې ، زغلونه ، او يونونه يادوي . د توروځلا ، د زمر يو يرغل ، د مځکو فتوحات د زلمو جنگې کنارنامې ، د ښه د توروځکولو تونه ، د جگړو بهيرونه



دده دستاينې موضوعونه دی ، مگر دستاينې داتول شاعرانه زيا راو هځه پرداسې خواروانه ده ، چې کوم فني عيب نه لري . تشبيهونه ، استعاري او کله کله اغراق خو د شاعري ښکلي ډلوونه دی ، مگر د ښکارندوی په دغو صنعتي تخليقاتو کې کوم عقلي استحالات نشته ، او دا دده کمال دی چې د شعري صنايعو په پېچو مو کې داسې گرځي ، چې د انساني تصور او تعقل له دايرې څخه نه وځي چې سپا فني نقادان دده شعر ته گوته و نيسي ، او وايي ، چې شاعر دمداحي په څپو کې همسې لاهو سوی دی چې د تعقل ترحد د باندې وتلی دی .

ملا شمس الدين بن قيس رازي داووم هجري قرن نقاد دانوري دابيت دعقلي استحالات له پلوه غندی او دادده دشعرنا ولتوب بولي ، چې خپل ممدوح په داسې ډول ستايي ، چې عقل يې نه مني ، انوري وايي :

اگر فنا در هستي بگل براند ايد
تراچه باك نه ذات تو مستعد فناست

داسې فني عيوب دلو يو او مشهورو شاعرانو په آثارو کې هم ليدل کېږي . دعربو متنبي غو ندی شاعر هم

دمداحی په زغل کې داسی ټکری خوری، چې وروستنی کره کتونکی د ده دا بیت ډیر غندی، او هغه رازی وایی چې په دی بیت کې متنبی دخپلی مورپر اوږو سپر یږی او دممدوح مخی ته ځی.

لو استطعت رکبت الناس کلهم
الی سعید بن عبدالله بعرانا

یعنی ما کولای سوای تو له خلق به می اوښان کړی وای، او پرهغو باندی به سپور دسعید حضور ته تللای وای.

رښتیا هم داده: چې دشاعر دغه مضمون افرینی اوستاینه ډیره بارده اورکیکه ده او دانتقاد گوته ورته نیوله کیږی. اوس نو تاسی دښکارندوی دغه طبیعی اومعقوله ستاینه چې له عقلی استحالته تښه ده او هیڅ رکاکت نه لري هم لوستلای سوای، چې څو بیتونه یې را اخلم:

په جوړو جوړو جګړن یی هند ته یون کا
چې د غور باداره همت کا په زغلو نه
څپان سمند یې هم له ډاره ایلایی کا
پراوږ ووړی د غور یا نو ښه ایرو نه



په هرکال اټک ددې ښه راغلی کاندی
غوړوی په خنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخوا ښکلی زلمی چې زغلی هند ته
نو آغلیه پیغلیه کاندی اتڼونه

دلته په موږ د تاریخ هغه وقوعی او رښتیانی مناظر را پیدا کو، چې دغوریانو کاروانونه هند ته روان دی او د اباسین پرڅپانو او بوباندی ددوی بېړی نڅا کوی او د سیندغاړې په پستور یګو فرش دی، او په دې خوښی کې ښکلی پیغلی داټک پرگذرگاه خاندی او ناڅی.

ښایی چې ځینی لوستونکی به دلته داغواړی چې دپښتو قصیدی فکری ذخیره، او دستاینی ددغې قصیدې اجتماعی او ادبی اړخونه اودشاعرد فکر قدراو قیمت د ټولنی په تطور کې په انتقادی نظر او کره کتنی سره واوری.

خوزه به دغه مباحث ددې څیړنو آخرینو برخوته پرېږدم مگر دانکته به اوس هم ووایم، چې د پښتون شاعر د تفکراو تخیل جولانگاه هماغه دپښتو او پښتنوالی ښکلی اوواقعی غولی دی، اودغه پښتانه زلمی چې دجګړې مهیب ډگر ته په خندا او نڅا زغلی، اود یوه لوی ملی

مقصد لپاره سرونه پایلي، دوی له کانو بوټو څخه نه دي پیداسوي، دغه ښایسته او آغلي پېغلې د دوی خویندې سینه ی اوخپلې دي. پر دوی خپل زلمي گران دي، خو بیا هم د دوی د فراق او بېلتانه پروخت له خوښۍ او نشاطه اتڼونه کوي او خپله خوښي داتڼ او نڅا په زړه وړونکو ننداړو کې ښکاره کوي. دا ولې؟ ځکه د لته یو لوی هدف او لوړه غایه په مخې ته ده. دغه هم د پښتانه شاعر او د پښتو ادب هغه امتیازي ټکي دي.



دریم څپرکی

# قصیده د روښانیانو په مکتب کې

ترغوري دورې وروسته ز موږ د پښتوادب په تسلسل کې يو ناوړه تشه سته. ځکه چې له ۶۰۰ ه ق څخه تر ۹۰۰ ه ق پورې موږ د يرلږ آثار اوس په لاس کې لرو او په خاصه توگه بيا په دغو درو سوو کالو کې د قصيدې نمونه ترهغه وخته نه لرو چې د پير روښان پياوړې شاگردان اوددغه ادبي مکتب پيروان، لکه دولت، ارزاني، ميرزاخان انصاري، کريمداد روښاني قادر داد، واصل او اورکزی تر ۹۵۰ ه ق وروسته په قصيده خوانی پيل کوي .

دا رکود او انفصال طبيعي هم دی، ځکه چې تر ۶۱۸ ه ق وروسته د چنگيز وحشي يرغلونه پر پښتو نخوا راغلل. دوی د غزنويانو او غوريانو د عظمت ماڼي په

غزنی او فیرو زکوه او بامیان اوهرات او بلخ کې ونړولی ،او بیا هم گوډ تیمور دا هیواد پسی سپېره کیٔ. په دغه تاړاکو اوبر غلو کې چې غټ ښارونه‌په‌سپېروډاگوبدلېدل ،اوپومتنفس هم نه‌پا تېدیٔ نو هلته علم او ادب او پوهنه هم پوپنا کېدل ،او پښتانه‌هم دلویو غرو سرو ته ختل ،چې له‌دې‌وحشیانه تاړاکه ځان وژغوری. دلته نوددوی سلسله له غوره سره شلېدله ،او کوم وخت چې‌ابن بطوطه‌عربی سیاح ترپښتونخوا دهندخوا ته تیر یږی ، د ده‌په‌قول افغانان دسلیمان‌دغرو په‌سلسلو کی خپاره اوسېشته وه٠او هم له‌دغه سببه دقصیدی تسلسل دغه دری پېړی له خپل لرغونی کانونه‌سره‌پریکړې ښکاری. مگر کله‌چی‌دلسمی هجری پېړی په‌نیمایی کی بیاد‌پیر روښان په فکری او ادبی مکتب کې‌قصیده‌نه په هغه قوت اوانسجام ښکاره کېږی ،نوموږ ته داخبر زیا تېږی چې په دغه تشه‌دوره کې‌به‌هم‌قصیده په‌ادب‌کې‌وه،خوکه تر اوسه ددی دوری دقصیدی نمونی زموږ لاس ته نه‌وي راغلی له سابق‌اولا حقه دا معلومولای سوچې دااطلا یی مزی



بلکل نه ؤشلیدلی اود غوری دربار د قصیده سراپانو لرغونی روایات دلسمی اویوولسمی پېړی دشاعرانو په مخ کې موجودوه .

په‌دغو وختوکې پښتوقصیده دپیر روښان اوبیا د خوشحال خان په مکتب کې وروزله سوه، مگر پس له غوری دربار‌ه دری قرنه دقصیدې نمونی اوس‌موږ نه لرو . خوبیا چې دپیر روښان په روحانی بزم کې وځلیدله . رنگ اوجوله یې‌بالکل بېله‌وه ، یعنی هغه قصیده چې‌په غوری دربار کې په فنی او ادبی گېڼو ښکلی دمدح اورثا لپاره ویل کیده، دپیرروښان په‌بزم کې خاص د تصوف او الهی تفکر په رنگ رنگېدلې راووته . دروښانیانو قصیدې خو دوحدت او تصوف په افکارو ډکی اوغنی دی ، مگر د صنعت اوادب او بیان له‌پلوه وچی کلکی اوبی‌خونده او تشی توری‌دي او ددوی د شاعری اوفنی‌کمال اوصنعتی جمال خوا سپېره ښکاری .

## د ارزانی او میرزا قصاید

ددولت‌اوارزانی اومیرزا انصاري کوم‌قصا یدچی‌اوس

مور ته پاته دی ، د مضمون او انسجام له پلوه پالکل نوي کړه وړه لري او داسې ښکاري ، چې د سنايي تر فکري تحول وروسته د تصوف او حکمت او موعظت قصايد ، او بيا د شيخ فخرالدين عراقي د جذبې او حال له ډکې وينا وې په دغو اوقاتو کې د ونې مقبولې شوې وې چې د رندانو او د زړو د خاوندانو بزمونه هم په دغو خبرو تاوده وه ، او د پير روښان د مکتب شاگردان هم تو له په دغو مرد افکنو ميو مست وه .

د سنايي وجد او حال ، د عراقي درد او سوز ، د مولانا جلال الدين بلخي مستی او نشاط او د وحدت په متلاطم درياب کې د دوی لاهو کېدل ، د روښانيانو د قصايدو اصلي شمزۍ ده . مگر فرق دونی دی ، چې د روښان په مکتب کې ادبي قدرت او د شاعريت حقيقي جلوې ډېرې کمې دي . نه هغه شاعرانه اقتدار او طمطراق سته ، کوم چې د غزنوی او غوری دورې په قصايدو کې ليدل کېږي او نه هغه مترنم او د انگازو او خوندو او ښکلاوو ډک کيف سته ، چې مونږ د مخه د اسعد او ښکارندوی په قصيده کې وليد .



که څوک د روښانيانو د دواوين په انتقادي نظر وگوري ، د صنعتي ښکلا تجليات هلته نه مومي ، او د دوی په بيان او کلام کې د خوند او ذوق کمی حس کوي . نو بايد چې د روښانيانو ادب او خاص بيا قصيده وچه او له صنعتي او ادبي ښکلاوو څخه تشه وبولی ، او دا د پښتو ادب يوه خاصه دوره ده ، چې مونږ يې په ادبي انحطاط قايل يو ، او ښايي چې دا هم د هغه خاص کيف اثر وي چې د غه پښتانه روښانيان په هند کې له خپله محيطه څخه لېرې پاتې شوي وه ، او له پخوانو ادبي رواياتو او ښکلاوو څخه بېر ته شوي وه . نو ځکه چې د دوی په کلام کې هغه خوږوالی او هغه پياوړ توب نه و ، چې مونږ يې د اسلافو په آثارو کې په ښکاره ډول وينو . ښايي چې ځينې پوهان په دغه ادبي رکود او تيارې علت دا وگڼي چې روښانيانو خو په پښتو قصيده کې د تصوف او عرفان او الهيت روح پو کړی دی ، او دغه مضامين د دوی غايي مقصد او هدف ؤ . نو ځکه د شعر په ښکلا او د ادب په ذهني تخليقاتو پسې نه گرځېدل .

مگر د اخېره هم د دوی عذرنه پرځای کوی ، ځکه چې تصوف او عرفانی مضامین د شرقی ادب او پارسی قصیدې چاشنی وه او دخوند او خوږوالی اومستی او نشاط سبب بې‌سول ، او په دغه رنګ یې ځینی شهکا رونه لکه حدیقه او مثنوی لرو ، چې تصوف په هیڅ ډول د هغو آثارو ادبی مقام او صنعتی او هنري قیمت نه دی ورکښته کړی . نو ځکه د روښا نیا نو د دوری ادبی انحطاط پخپله د دوی د هنری لیاقت لږوالی ته منسوبوو او دا وایو چې ترد وی وروسته د خوشال خان په مکتب کې قصیده په هماغه پخوانی آب و تاب ژوندی‌سوې ده . میرزاخان انصاري چې په ۱۰۴۰ ه ق ددکن په یوه جګړه کې ووژل سوی دی او د روښان پیر لمسی دی په یوه قصیده کې عرفانی معروفی خبری په‌داسی ډول کوی ، چې هیڅ ادبی خوند ، یا صنعتی ښکلا نه لري دی وایی :

معشو قه‌چې حجاب واخلی ترو عاشق به‌نزد یکت کا
آوا ز ښه وا ړه دیو دی گهی قهر گه رحمت کا



چې په زمکه په‌آسمان دي د یوه مو لی صفت کا
په هر صوت سامع پوهیږي او سرود یی زیات لذت کا
عارفان به پرې خو ښیږي کم د ایل ځنی وحشت کا
هر واصل چې یګا نه شی نداره به د وحدت کا
په یوه کې د ویم نشته نه زیا تی نه کمامت کا

اوس نزدی دغه مضمون ته د حضرت سنا یی له ملکوتی ارغنونه دا نغمه واروی ء چې په‌څه قوت او سلاست او د پوخوالی په فضا کی انګازی اچوی :

مقدسی که قدیمست از صفات کمال
منزهی که جلیلست بر نعوت جلال
هرانکه شربت سبحانی و انا الحق خورد
به تیغ غیرت اوکشته در هزار قتال
ز آهوان طریقت هر آنکه شیر آمد
نهاده است به پایش هزار گونه شکال
زما زم ملکو تش کند دلم چون خون
مراست جام و صالش همیشه مالا مال
بنغمه ها ی مز امیر عشق او مستم
شراب وصلش دایم مرا شدست حلال
( د یوان سنا یی ص ۱۹۲ )

اوداغه مطالب بیا د روښان پیر له پل شاګرد یعنی ارزانی خیشکی ښخه واوری، چې د زرم هجری کال په شاوخوا کې ژوندی ؤ، دی وایی :

دا ثبات په کور د ننه    داحد ږیوه کړه پله
ستا زړه جامجهان نمادی    او وې کاږه له بغله
یو څراغ دی چې پلیږی    پوشیده دی له احو له
د دغه څراغ رڼا ده    تراعلی هم تر اسفله
چې منصور په سرد داردی    د آنا لول یی ښیله
بایزید سبحانی ولوست    د خپل زړه له هیکله
د ملا پر کتاب نشته    د رندانو له عمله
د کامل تخته ده پاك    د دی غیر له اماله

همدغه مضمون ته ورته مضمون د مخه عراقی په داسی ښکلو او خوږو الفاظو په شاعرانه مهارت بیان کړی ؤ :

روشنان آئینه دل چون مصفا بینند
روی دلدار در آن آئینه پیدا بینند
از پس آئینه د زدیده برویش نگرند
جان فشانند بروکا نرخ زیبا بینند
عارفان چونکه زانوار یقین سرمه کشند
دوست را هر نفس اندر همه اشیا بینند



درحقیقت دوجهان آئینه ایشا نست
که بدو در رخ زیباش هویدا بینند
(د دیوان عراقی ص ۷۵)

د لته نو اوس پخپله ښاغلی لوستونکی اټکل کولای سی، چې په غزنوی اوغوری دوروکی خو پښتو قصیده اوږه پراوږه له پارسی قصیدې سره تلله او په ځینو خصایصو کی ځنی ږیره د مخه وه. مګر د روښانیانو په مکتب کې خو قصیده ژوندی وه، اما جوله اوبڼه یې کوږه اوښتی وه او هغه لرغونی ښکلي او خوږ تیاوې او د ځواو اوسینګار ګڼه یې نه درلودی. مګر دغه وچه کلکه او توره تیاره دوره اوږده نه سوه او خوشحال خان بیا د قصیدی د لرباناوې په هغه سینګار اوښایست را وایسته چې په لفظی اومعنوی خصایصو اوفنی معیار کې هغه لرغونی قصیدې ته ورته ده.

## قادر داد :

هملهدغی ډلی ښخه قادرداد د محمد زمان زوی د روښان پیر له کورنی ښخه تر ۱۱۱۸ ق پوری ژوندی و، چې پلاریې هند ته فرار سوی او هلته به سړی.

دی هم اوږدې عرفانی غزلی لری چې کله کله یې دغه غزلی د قصیدې درشل ته هم قدم ږدی .

دورکی خزانې مؤلف (۱ر۳۹۵) د ده څه نظمونه راخوندی کړی دی چې د روښان پیرادبی مکتب یو ورك پلورا روښانه کوي .

قادرداد دروښانیانو په صف کې د کریمداد ښه ګښن ترځنګ (مګروروسته) د دریدلو حق لری . ځکه چې په کلام کې یې شعریت تر واصل ، دروندښکاری . عمومی موضوع خویوه ده ، مګر کله کله هنرهم پکې ځایږی اوسړی ویلای سی ، چې غزل یې د شعرښکلاوی لری ، لکه :

چې مدام په زړه کی خیال لری وجنګ ته
ځوك به څه وایی دې مست شوخ وشنګ ته
چې پر ې آه دعا جزا نو اثر نکه
د نرمی خو ی به څه ستا یی وسنګ ته
لکه زه چې د هجران په اورګدازشوم
خدای دې هسی ساعت پیښ نکه پتنګ ته
اند یښنې لکه خاورونه رالګیږی
په ارامی ارخ نه لګی پالنګ ته



عاقبت به ستا دغم حصارته پریوزم
چې ارتا ودی کړم دمینی وګړنګه ته
د تمهت د رسته رقیب کړه په ما تشه
دغضب توره په لاس ګرځی وځنګ ته
رقیبان دکوځی سپی شوه قادرداده
مدام غاپی د دیدن وږ ی ملنګ ته
(ورکه خزانه ۱ر۱۱۳)

د قادرداد د کلام په نمونو کی یوه اوږده قصیده هم سته چې په دې ډول شروع کیږی :

ابتدا چې د حمل په درست جهان شی
زمکه سبزه زرغونه هم کوهستان شی
رنګا رنګه ګلونه ګل شی په چمن کی
ډیرعالم یې ودیدن ته نګران شی
چې ژیړلی دخزان ښا یست بیاموسی
آه سرد بیرون له جس په سندان شی (الخ)

د تشبیب په سینګار ولوکی دده قدرت د غونی دی مګر په تخلص او ګریزکی څه له شاعرانه مهارته کار اخلی او پرهنرځان خپل عرفانی او تلقینی مطلب ته نژدی کوی :

عندلیب په ډیرهوس تر ګلو ګرځی
سراوی ګل په پریشانی کی خندان شی
له ماضی فراقه ژاړی وچمن ته
ترس می نه له مستقبل غم د هجران شی
دااتکل یې هومره نه دی په خاطر کی
چې به بیا دا زما جمع زړه پریشان شی
نه به زه تر تله اوسم په جهان کی
نه به پاته جوړ دا هسی ګلستان شی
یا به زه وړاندی له ګله جدا کیږم
یا به وړاندی ترما پیښ پر ګل خزان شی

په دې ډول دی ورو وروځان مقصد ته خرمه کوی او د خزان مناظر، د ګلو سراو توب د پاڼو رژیدنګ، د سمسورو باغونو خمسوری تصویر کوی. خو په پای کې وایی

بیوفاد نیا به پاتی شی له واړو
په ارمان به ځنی ولاړ شیفتګان شی
له د ارا له سکندر یی وفا نکړه
خه امید په دغه بی وفا دوران شی
اورنګ زیب ولی پادشاه ترد نیا تیرشو
چې دعدل یی تعریف په هندوستان شی



چې داهومره نصیحت کړم باورو کړه
ځان ته وایم تش مذکور دد یګران شی
همه واړه عیب وینم پخپل ځان کی
که بیا نه په خولهدانو رنور آدمیان شی
هیڅ سړی به غلط نه ځی قادر داده
که پیرو دانصاری بایزید روښان شی

## دکریمداد بنګښ په دیوان کی قصاید

دپښتو ادب دقصیدې په اوږده تاریخ کې چې کله مونږ غوری دورې ترلوړو او ښکلو قصیدو را تیر سو نودروښانی مکتب له بی خوند ومنظومانو سره مخامخ کیږو اوداسی وینو چې تر ۸۰۰ ق را پدې خوا پر پښتو ادب باندی دهنری رکود اودښکلا دفقر دوره راغلې ده. مګر کله کله پخپله په دغه ډله کی ځینی د ذوق خاوندان او د هنر او ښکلارو زونکی شاعران هم پیدا سوی دی چې له هغو څخه یو کریمداد دی، چې په دری شعر کی ځان «عیشی» بو لی.

دروښانی ډلی دمنظومانو په لړ کې دکریمداد ځینی قصیده وشمه منظومې د هیر ولو وړندی. دده دیوان اکثر په هغو اوږدو تغزلاتو ډک دی، چې سړی

يې غزل نسی بللای ، خود قصيدې ټول خصوصيات او تعر يفونه هم نلری .

کريمداد هم عمر په هندوستان کې تيراوه ، په قوم بنګښ و ، ځينی فارسی غزلی هم دديوان په پای کې لری ، چې ادبی ارزښت يې متوسط دی ، مګر د پښتو وينا يې تر نورو روښانيانو قوی ښکاری او سړی ويلای سی چې کريمداد يو ناظم و چې د شعر د رشل ته ورنږدې سوی و .

د کريمداد د زوکړی ځای د هند شمس آباد او د استوګنی ځای رشيدآباد و ، او دا ځای هغه رشيدخان آباد کړی دی ، چې د روښان پير له لمسيانو څخه و ، او د هندوستان کورګانی پاچهانو هلته فراره کړی ، او په ۱۰۲۹ ه ق کال يې د اورنګ آباد په صوبه کی څه ځمکی او کروندې د جاګير په ډول ورکړی وی ، دی وايی :

زما ځای د قناعت رشيدآباد دی
که هر څو ښهرونه ډيردی بې شماره

دماثرالامراء خاوندليکی : «رشيدخان» د سنه ۱۰۵۸ ق در صوبه داری نا .. ندير بساط هستی درنورد ، د رشمس آباد د يهی آباد کرده ، باغ طرح انداخته ، نعش او را برده همانجا مدفون ساختند » . (ماثر وهم توک ۸۹۰ م)



نو کريمداد هم په شمس آباد کی د رشيدخان په دغه کلی کی اوسيدی ، چی وروسته رشيدآباد سو . دی وايی :

در يغا سير ګلګشت رشيدآباد ميخواهم
تماشای پری رويان شمس آباد ميخواهم
می ومعشوق ګلرخسارو آواز خوش مطرب
کنار ګنګ وسروسوسن آزاد ميخواهم
( د کريمداد ديوان ص ۹۸ )

کريمداد چې په دری ژبه کوم خواږه اشعار ويلی دی ، خپل تخلص (عيشی) او قوم بنګښ داسی ښيی :

عيشی ام بنګشی ام خاك رهم
دين ودل باخته درراه توام

په هرصورت د کريمداد ژوند تر ۱۰۵۸ ق پوری چی رشيدخان سری يقينی دی ، پس له دې نده معلومه چی په هند کی و ، که بيرته به خپل وطن تيراا و بنګښو ته راغلی وی که يه ؟

کريمداد په روښانی مکتب کی لوړ ځای لری ، ځکه چې د ده ديوان قوت په دواړو ژبو پښتو او دری کې ځلېږی او داسی ښکاری چی د عرفان په څرګندولو او بيانولو

کې خپل هنري استعداد هم لري ، او دده وينا وي تشي بې خوندي منظومې ندي .

تاسي وگوري چې هنري استعداد څنگه د يوه هنرمن په په تخليقاتو کې اثر کوي ، او خپله اغيزه ښکاره کوي . خبري هغه خبري دي ، چې دولت او ميرزا انصاري يا پخپله روښان پير په خيرالبيان کې کړي دي . مگر کله چې د عرفان هغه زرد يوما هر زرگر په لاس ورغلي دي نو ده پخپل هنري مهارت ، هغه داسې سينگار او جوړاو کړي دي ، چې د ښکلا يوه دلکشه نمونه ده ، او سړی چې يې لولي ، نوخوندځني اخلي :

د عاشق په نظر گوري ،
د محبوب د مخ جمال دي
توري زلفي يې خوري کړې
پرسپين مخ يې ايښې خال دي

گهي سرو د چمن شي    بيا جنبش يې پخپل حال دي
گه بلبل خوش الحان شي    که طوطي شيرين مقال دي
توري سترگي يې مکحولې    هم يې قد په اعتدال دي
بيا عجب يې کړي وروځي    چې تشبيه يې په هلال دي



د رست مجلس يې په مي مست که    څه عجب ساقي کلال (؟) دي
موجودات يې برگ برشه    د وحدت د باغ نهال دي
گهي ساز گهي يې مات کا    دي د کل بانه وکلال دي
سا تندوي د زنده سر و    د جمله حيوانو گوال دي
د اسلام پر لوره و خوت    بانگ يې وواپه بلال دي
مقلد پيکي بندي شو    د اتقليد بې مثله جال دي
چې له دې دامه بيرون شو    پر هغه ديدن حلال دي
دا ديدن په هغه کا ندي    هرچې تير ترسرو مال دي
چې يې آئينه شوه رنگه    پر هغه ديدن محال دي
ذميمه او صاف په څو که    هر چې حميده خصال دي
له بدي په تل پرهيز که    چې پسنديده افعال دي
کريمداد ادبيان کښلي    په زرشپږ پنځوسم کال دي
يا د گاري يې ده پريښې    بيان کړي يې خپل حال دي
هر چې راشي پر دا دنيي    عاقبت يې ارتحال دي

## د کريمداد بنگښ د قصايدو هنري خوا

کريمداد کله د قصيده سرايانو پرسنت برابر اول د بهار د مناظرو تشبيب لري ، او بيا خپلو عرفاني او تلقيني مطالبو ته تخلص او گريز کوي ، او دلته نوسړی

داسې چې زموږ دپښتو ادبیاتو کړی دلوی افغانستان په سلسلة الذهب پورې نښلی، او هغه رنګه سطالب چې سنایي پخپلو عرفانی او اخلاقی قصیدو کې ځای کړی وو، د کریمداد په کلام کې هم هغسې ښکاري لکه دا قصیده :

## تشبیب

ښه نسیم چې زیری راوړله بهاره
عندلیب سی په فغانشه تر ګلزاره
په وصال یې د ګل ډیره خوښي وشوه
چې په ځان یې محنت وښکاوله خاره
په چمن یې له ګلبانګه شراشور که
په هر هر نفس یې ذوق دی له دلداره
د نیسان او روید د ور سره وکه
په هر لور ګلونو و تړل قطاره
مست بلبل لکه خلیل پکې چاروزی
د نمرود اورشه ځر ګندله لاله زاره
دلاله پیاله له سرو شرابو پرشوه
نرګس ترګې کړې وربورته له خماره



څه راحت به له ژوندونه که په بخره
چې په هستۍ به موسم ګرزي بې یاره

## د تخلص بیتونه

په جهان کې تفرج به تجربه کړې
لاځونه یې مقیم شوی له رفتاره
دغه زمکه لګد کوبه دهر چا شوه
چې مقیمه پخپل ځای وی نه د واره

## اصل مطلب ته ګریز

له طلبه یو زمان فراغت مکړه
خبر ته شه له هر ملکه له دیاره
حماقت به دی بدل په پوهه نشی
ځوله کوره دی سفروی تر بازاره
افرینش واړه پرتادی نثار شوی
د خسیس په دود لاس مه وړه ترسناره
قافله دی دهمت اوده په خوب ده
ته په بانګ د استغنا یې کړه بیداره

سروڅان د آزادی و ملک ته و یوست
میوه داری ونی لاندی وی تر باره
قلب زر به دې قبول پر صراف نشي
څوبې ورنه وړې د عقل تر معیاره
په تحقیق به تر انجا مه و رسیږی
هره چار چې په اخلاص کړی اختیاره
د رښتینی مینی قیاس کړه له پتنګه
چې یې څپله هستی څار کړه تر نګاره
داشنامینی می زړه هسی دوه نیم که
چې تشبیه یې په څه نشي بې اناره
خشک و تر به یې یکباره سره بل که
په هر زړه چې شی د عشق شعله هراره
شراشور به د یدن په اهل ګډ که
که یو څل په جلوه ګا شی غمګساره
توری زلفی تاریکی دی لکه لیله
تجلی یې د مخ زیاته له نهاره
څولک له شوقه یې تسبیح که تل ترتله
او د څینو سر یکار شه له زناره



له عاشق سره یکتا شو بې پیونده
په حجاب کی یې مخ پټ که له اغیاره
له صوفی سره کلام د تصوف که
او له رنده میخواره سره میخواره
که ګذر یې د قبور په عالم وشي
شهیدان به ژوندی پاڅی له مزاره
چې هر ښهردې معدن دی د حورانو
تر بهښته دی کم نه وینم هند وباره
ښایسته یې په هر لوری په څولونه
آراسته یې په انهار او په اشجاره
په خوبی دی هیڅ دیار برابر نه دی
تجربه ده ډېره کړې په ډېر واره
دما څای د قناعت رشید آباد دی
که هر څو ښهرونه ډېر دی بې شماره
د «کریم» په دود به ژاړی د زړه وینی
هرچې بیل شو د دوستانو له قطاره

یو زمان له درد و غمه نه خلاصیږم

بېلتانه مې رڼا ورځ کړه شب تار

(دیوان ص ۸۰)

د کریمداد ادبي او هنري استعداد په دواړو ژبو کې سره برابر دی، او هغه داچې ده د روښاني مکتب قصیده له رکوده او بې خوندۍ څخه راویستلې او بیا یې د هنر پر ښکلي تخت کښېنولې ده. علت یې هم دا دی چې ده په دري ژبه کې هم د غوښتلي لاس در لود چې دلته یې فقط یوه غزل رانقلوم:

چو بلبل هر زمان آشفته گرد چمن گریم

بیاد قامت رویش بسرو و یاسمن گریم

چو میرم د رغمت ای جان! بیا بعد از وفا تم بین!

که از سوز، درون پنهان ز مردم در کفن گریم

دلم خون شده ز حسرت تا بکی چون پیر کنعانی

جدا از یوسف خود مانده در بیت الحزن گریم

چنان در محنت راه و بلای منزل افتادم

که گاه از هجر یار و گاه بریاد وطن گریم

گهی برشورش و افغان مجنون نغمه یی گریم

گهی در بیستون با ناله های کوهکن گریم



ندارم همدمی اندر همه گیتی، مرا آن به که

در پیغوله غم، بعد ازین با خویشتن گریم

کجا از سحر سان بزم وصل او شوم «عیشی»!

پس این کز شوق اوچون شمع در هر انجمن گریم

(دیوان ص ۹۸)

## واصل:

د ده نوم بخوا مو ارو بدلی و، خو ښه مو نه پېژاند. په ۱۳۵۳ ش کال ښاغلي پوهاند رشاد د ده څو نظمونه خپاره کړل چې د ارزانۍ او دولت او انصاري غوندي یې سري په فکري لحاظ د روښاني فکر یوه کړۍ ګڼلای سي. خو په کلام کې یې هنري او شاعرانه ارزښتونه لږ دي.

په دغو څېرو سوو نظمونو کې یو څو اوږدې غزلې سته، چې د قصیدې تر تعریف لاندې نه راځي خو په ۳۵ مخ کې:

هرچې یو سړی افګار شي عیال د رست پسې بیمار شي

ځینې دي څواړې ارمان کا څوک د خپل صورت په دار شي

قصیده ده چې ۳۵ بیته لري، او په پای کې یې داسې

ختمو ی :

نصیحت د کا ملا نو      د نادان علاج په دارشی
په اسلام یا ندی اقرار که      چې یی سر په ذوالفقارشی
هیڅ حیوان په لاری نه ځی      څوعلاج یې په اوسارشی
وجو دونه دچند ن ده      نوس یی عین تورښامارشی
«واصل» واړه اجاره کړه      ترحضورد یدن یی جارشی

داسړی که څه هم دخوشحال خان معاصر اودلسم قرن ژوندی ښکاری ، مگر په کلام کښې یی کټ مټ د روښانیانو د نظم کړ و قصید و خصایص لیدل کیږی ، او په هغه ژبه گڼل دی چې میرزا اودولت اوارزانی مودمخه ولیدل .

## اورکزی :

دده نوم نه دی معلوم . دقادرداد اودهند د روښانیانو سره محشور او معاصرو . داسی ښکاری چې دقادر داد تر مرگ وروسته هم ژوندی پاته سوی دی (حدود ۱۱۷۵ ق) . په غزل کی یی څه هنری ښکلا ځلیږی ، خو په قصیده کی یی خوند نسته اونه په بحث او کره کتنه ارزی . خودونی به وواېو ، چې ، د روښان په مکتب کی



موږ دذوق خاوندان اوځینی ښه شاعران هم لرو چې د دوی قصیدې د پښتو ادب د تاریخ په تندی کی ځای نیسی اوسړی و یلای سی ، داشعردی او تش بی خونده نظم ندی .

## میر خان روښانی:

ددولت لوانی په د یوان کی (ص-۲۵۲ د کابل طبع) یوه اوږده قصیده د میر خان په نامه سته چې تر ۱۰۰ بیتو زیاته ده . داسړی هم د روښانی مکتب شاگرد ښکاري ، مگر کله چې دولت ژوندی و (۱۰۶۸ ق) ښایی داروښانی ناظم به مړو . دولت دگنج عارفین تر بیان وروسته چې د رسول صلعم معجزات دی . داقصیده د دغی اصطلاح په شرحه کی راوړی ده چې داسی شروع کیږی :

نن سی زړه له خفی گنج که څو وینا
مخفی گنج دی بې شر یکه بی همتا

یو عجیب ښایسته نورو بی مثا له
منزه له سبز و سر خه هم بیضا

نه یې رنګ، نه یې مثال شته نه یې لوری
پاک ښاده او منزه و تعالی

هم کامل هم مکمل او هم غني و
پاک له فقره له نقصا نه له فنا

د غفلت او د نیسان اثر پری نه و
دی علیم او خبیر و توانا

لوی علیم چې وخپل ذات و ته نظر که
یکبار شو پرخپل ذات باندی شیدا

چې دغه رڼا ښکاره شوه صبا شو
هر چې و، له دې رڼا شوه هویدا

لوح، قلم بهشت دوزخ له ده ښکاره شو
عرش، کرسی، آفتاب و ماه ارض وسما

دا د ځینو صوفیانو هغه عقیده ده، چې د «الله نورالسموات ولارض» پر اساس یې دغه نور دکاینا تو منبع ګڼی او بیا په دغه رڼا کې د رسالت او امامت مقام ښیی، او د رسول او اصحابو ستاینې کوی. خو په پای کې وایی:



اطاعت د حقې لارې پرتا فرض و
که عاقل یې، اعراض کړه له جهلا

وروسته څو بیته لری، ګمان کوم چې غلط به چاپ سوی وی. خو په دې بیت کې خلک د روښانیانو لارې منلو ته راغواړی:

هرچې لاری وی له خدایه څخه مونده لې
که نیک بخت یې ورپسې کړه اقتدا

رسالت د عارفانو که وحق ته
مشتاقان له خپله یاره که اشنا

ګمانی سحاب یې درست له دلدار و اخوست
له شها سره تل راز د عرفا

اې میرخانه! قسمت شوی په ازل دی
انتها راجع هموش د ابتدا

(ص ۱۵۲ د دولت دیوان)

نو په دغه دول میرخان هم د روښانی دلی په ناظمانو کې د قصیدې خاوند ګڼل کیږی. مګر څنګه قصیده؟ چې شعر خوندی، مګر نظم به وی.

## د دولت لوڼ قصیده سرایي

د پښتو ادب دروښانی دلی په‌شاعرانوکی دولت لوڼ دداداوزوی هم نسو هیرولای .

دی پخپله ځان داسی ښیی :

ای دولته روښانی ! حسن خیله نوحانی
بل ځای هم وایی :
د کمکوتی ثنا مکړه ! د داداونوحانی زویه

نوحانی خودپښتو لوڼ یا لوانی یوهندی سوی شکل ښکاری ، او په‌دي بیت‌کي خپل‌ځان ښه‌راښیی :

شیخ‌دولت‌الله می‌نوم‌دی ها تفـا یښی
پر زبان دخلکو یاد «فقیردولت» یم

دولت خوپه‌پښتو دغونډ دیوان خاوندی ، او د پښتونور شاعران یې‌هم په شاعری منی. خوشحال خان غوندی لوی شخصیت هم‌دده وزن په‌پښتو شاعری‌کي داسی اتکلوی :

بل دولت‌فقیر دري پاوه زه‌تری څوشیرشاهی‌تیر
(د یوان ۳۸۶)

نور شاعران ئې هم‌داسی ستایی :



د فـقیر پښتو خبری لکه سپینی مرغلری
(ارزانی)

دولت ځان دمیا روښان لاس‌په‌لاس مرید اوشاگرد گـڼی :

زه‌فقیر دولت مرید دمیا روښان یم
له فترا که به یې نه‌کاږم آسان لاس

له‌دی‌څخه‌ښکاری چې‌دی دروښان‌معاصر، اراد تمن اود ۹۸۰ ه کال دشاوخوا سړی‌دی چې‌با ید د ۹۶۰ ه په‌حدودوکې زوکړی وی ، اوژوندیې تر۱۰۶۸ ه ق پوری یقینی‌دی ، ځکه‌چې‌په‌همدغه‌کال ئې‌دالهداد خان انصاری ویرنه (مرثیه) ویلې‌ده.

ددولت ژوند هم اکثر په‌هندکی تیرسوی ، اود رشید آباد اودکن په‌سیمو کی روږد دی ، او پخپل دیوان کی هغه‌افکار اوعقاید ځایوی ، چې د پیر- روښان دمکتب شاگردانئې لری . دی د قرآن اوسنت او شریعت اوسنی مذهب تابع‌دی اود خپلی شاعـری باغ ، د عرفانی اودینی افکارو په گلونو سمسوروی.

دیوان‌ئې په‌۱۳۵۳ ش‌کال د پښتو تولنی په‌همت په ۲۷۹ مخه‌کی له‌کاباله خپور سوی‌دی .

د دولت شعرونه خو دعرفانی اودینی قالب په محدودو لرګیو کې راګېر سوی ، او د یری اوږدې قصیدې لری ، اوهغه چې دغزل په‌قالب‌کی اچول‌سوی دی ، هغه‌هم دغزل تر محدود قالب کله‌کله وزی اود تغزل شکل‌مومی . ښاغلی پوهاند رشاد هغه‌کړیده چې دده ځینې‌شعرونه دخلیل بن احمد په‌عروضی قالب‌کی کښېباسی ، اودعروضی تقطیع په‌کړاو ئې اخته‌کی . (وګوری‌دده دمطبوع دیوان‌مقدمه تر ۱۹ مخ وروسته) دغه هڅه‌خو دعلمی پلوه ښه اوپه‌زړه پوری‌ده ، مګر دپښتو ژبی له طبیعته او جوړښته سره‌سمه نه ښکاری مثلاً دابیت :

ای‌چې دا یم بی جاجا څرګند نه‌وینم غیربی له تاڅرګند

دا خوسپکه بحر (فاعلاتن ـ مفاعلن فعلان) دی . مګرزه داسی ګمان کوم چې‌د پښتو عروضی طبیعت د آریایی ژبوله وزمونو سره‌ښېلی ، اود دولت ګرده شعرونه به په‌عربی قالبونوکی اچول مشکل وی .

که موږ په‌روښانی دله‌کی دولت ته کومه درجه ټاکو نوبا ید چې د شاعری پر ډګر دی تر کریمداد وروسته دارزانی اومخلص ترهنګه ودروو . خو په



فکری لحاظ محقق ښکاری ، اوتوحیدله اتحاداو حلوله بېلوی :

دتوحید وینا سی شوه پر زړه نزونه
سبراله اتحا د ، هم حلو له

بل ځای وایی :

د یقین په نظر یورا ته ښکاره شو
له اوله چې‌سی څوك په نظر سل ګوت

قرآن وایی : «چیری‌چې مخ کی ، هلته‌دخدای ننداره ده» « اینما تولوا فثم وجه الله » .

د روښان د مکتب مفکران له‌کثرته بیر ته وحدت ته ځی ، اود اسلامی عارفانو په‌هغه‌ښه له‌نوزی‌چې د دویی له ډګره یکی ته‌ورتیر سوی‌وی :

چون یکی باشد همی نبود دویی
هم‌منی برخیزد این‌جا هم تویی

خواجه‌عبدالله انصاری وایی و :

« ازخود فروتر آی‌ورسیدی » (طبقات‌الصوفیه ۹۱)

دا مرتبه‌چې سړی له‌خودی څخه‌وزی ، اوسل یو وینی د اسلامی عارفانو په‌کلام کی داسی شرح کیږی چې

نیستي سوی خلک د هست پرور دریږی .

نیستانی که بردر هستند
نه کمر بردرش کنون بستند
کز ازل پیش عشق و همت و زور
خود کمر بسته، زاده آند چو مور
جهد کن، تا چو مرگ بشتابد
بوی جانت بکوی او یابد
برگذر ! زین جهان پراو باش
گر بدی یانه، بردر او باش
( دسنائی حدیقه )

دغه نیستان چی ځانونه ئی د هستی له دګره وړی وی، او دوحدت په ځپان سیند کې فانی سوی وی، د دولت په ژبه داسی وایی :

په قوت د دریاب چی ګډ شی یو یاد یږی
په جهان که هرڅو ډیر دی دریابو نه

## ددولت لوڼی په قصایدو کی عرفانی مضامین

ددولت په تغزلا توکی او قصیدو کی عرفان اخلاق او شرعیات سره ګډ دی، او سری ئی په پښتو کی



دسنایی دقصایدو پیرو ګڼلای سی. مګر دسنائی دشعر یت قوت نلری .

دده دفکر او ادبی قوت دښکاره کولوله پاره دغه تغزل ولولیء، چی تول یو ګڼی :

په ظاهر باطن چی ګوري سبحان یو دی
صور تونه ډیر لیده شی جانان یو دی
د کثرت په حسابو نه غلط مه شه
مومنان هرڅوا نیوه دی ایمان یو دی
په صدف کی در خالص په مار کی زهر
بارنده پرهر ځای ابر نیسان یو دی
پراغزی پر ګل ئی نور یوشان ویشلی
تابنده پرجهان لمر درخشان یو دی
رنګ رنګ ګل ځنی پیدا شی په پټی کی
چی ګیاه پرې زرغونیږی باران یو دی
که لښکر حشم ئی ډیر لیده شی څه شو
چی په حکم یی عمل شی، سلطان یو دی
ددنیا بازار ئی جوړ کا په خوشانی
دمعنی په سترګو ګورې هرشان یو دی

د احول سترگی کړې دی يودوه وينی
جلوه گر په عرش، کرسی، کان، مکان يودی

د شاهد لباس اغوستی د لېري کا
ذات واحد، بصير، عليم، ښوالوان يودی

چی د عاشقانو زړه په زلفو خال وړی
د ار بای دزړ ونو ژر په جهان يودی

د معشوق عاشق جامه واغوندي راشی
عشق باقی، شاهد، مشهود بی گومان يودی

پری مومن، کافر، ماهی، چونگښه زيست کا
پاك دریاب بېحده لوی، بی پايان يودی

د مجاز په څو ښا درکی ئی مخ پټ کا
د «دولت» د زړه انيس پټ، عيان يودی

( د دولت ديوان ۱۷٦ )

په دی ډول تاسی د دولت د بيان هغه اصلی جوهر او پر کلماتو او الفاظو دده راخرمه توب اتکلولای سیء چی يوازی دعرفان فکری پانگه نلری بلکه د بيانی هنر لبرخه ذوق او ذخيره هم ورسره ده •



ځان جهان په لاالله نيست کړه «دولته»
د جانان په سترگو گوره خپل جانان ته

د دولت قصيدې چی عرفانی او اخلاقی مضامين لری لکه د ستايی عرفانی قصيدې، اوږدې دی، او دده کلام په پښتو ادب کی د عرفانی پانگی يوه غوره ذخيره گڼلای سو. دده شعر د شعر لپاره نه ؤ، هدف ئې د روښانی عرفان ښرگندول و. د دی کار لپاره چی ده کوم هنری استعداد او د کلماتو ذخيره درلوده، هغه ئی تول په دې لار کې کښېښېوه. که څه هم ده لکه ستايی يو لطيف ادب جوړ نه کیء، مگر بيا هم په پښتو ادب کی دده وينا تر ډيرو ناظمانو غوره ده ، او کله کله د لطيف ادب پرپولو هم پل ږدی ، او کله چی د تغزل ميدان ته را دانگی لکه يو تکړه غزل سرا داسی مضمون افرينی کولای سی:

شيرين ښار چی ماد زړه په سترگو تل کوت
هرساعت په سی د سينی د ده گل کوت

د ديدن شراب ئې راکړه هسی مست شوم
چی هر جز سی د معنی په قوت کل کوت

ځان جهان راځخه هیرشو په‌مستی کی
لور په لور به‌می د لبرجلوه‌گر خپل کوت
چی په لا ا لله می غیر و جو د نفی کا
روحانی پادشاه می‌ناست پرتخت‌د دل کوت
که نظر می د صفا ت پر عا لم و کا
بی‌آشنا می نه‌جهان، نه‌ځان ، نه بل کوت
د یقین په نظر یو را ته ښکا ر ه شو
چی اول می‌د گومان په ستر گو سل کوت
د وحدت په باغ څره بی سره گله‌شوم
گل'وخا رسی یو لیده ،زاغ‌می بلبل کوت
که د زړه ارسی صفا کړ ي و به وینی
هغه مخ چی پاك ولی ، نبی مرسل کوت
زه «فقیر دولت» هرگز په‌میان‌کی‌نه‌وم
د لبرخپل جما ل پخپلو ستر گو تل کوت
(د یوان ٨٢)

اوس‌د دولت یوه قصیده‌را اخلو،چی د اهم د مضمون تسلسل لر ی اوهم د تخیل سر ه نښتون پکی ښکا ری



مگر موضوع ئی هغه عرفان او هغه د ر وښا نی مکتب د افکا روڅر گندو نه ده :

هرچی نوش‌د توحیدسی‌کا د خودی مرکب به پی کا
یو د یدن به‌د دوست و ینی هر نظر چی‌پرخه شی کا
د ا هغه زه ،ته پرده یم په پرده کی با زی دی‌کا
وا یی نه یم ، نـوازه شی څه‌عجب اشارت نی کا
چی د شک‌گومان‌سچ وخوری د توحید نعمت په قی کا
کا سل ځـکه غلط نـه ځی تگ‌ د پغمبر په پی کا
هغه نه مر ی تل باقی شی چی‌مړز ړه په‌ذ کرحی کا
د خیر سا ج په شا ن به په ر ضا دده مرگی کا
د ر ست بـد ن د ذ ا کـر ذ کـر
گوشت پوست ، هډ ،مغز، رگ و پی کا
پر بیابان مجنون چا روز ی
لیلـی میل د خپل حی کا
یـو صفت پـه خپلـه ژبـــه
چین ،ختن په هند ، روم ،ری کا
په قدرت له یوې خا وری
سوا ر، پیا ده ،شتر ،مزری کا

د یگګ ، طباخ ، سرپوش ججری

خم ، پیاله ، بدنه ، گړی دا

پیل د غوښی له صور ته

پی ، شوڼي ، شروښی ، غوړی دا

باد شاهان ئی خدمت همی

لکه بنه عاجز مریی کا

او لیا په یوه دم کی

تر مشرق مغرب ، لارطی دا

ددي قصیدي د تخلص په برخه کی داسی نتیجه اخلی اوخپل مطلب ته گریز کوی :

غیرمه گوره دولته ! خیر ، شرسبب کل دی دا

پهساعت کی نیست نفی شی دهستی لا فی لوگی دا

مراد ها لهموسی سریدچی سر د پښی تلی کا

عاشقان د ده له شونه تن ، تن ، تنا ، هالی کا

په بهشت کی گفت کم دی بی سلامه بي علیکا

( د یوان ۲۲ - ۲۵ )

د دولت د قصیدو موضوعونه دعرفان په ارت چا پیر کی



متنوع دی، او د یر داسی څه پکی شته ، چی مري ئې د اسلامی عرفان او د شرقی صوفیانه ادب نخور بللای سی . که یو څوك د غه افکار او ښکلی مضامین سره پیل او تر خپل عنوان لاندی کښیږدی ، د عرفان او تصوف یوه ښکلی او گلالی باغچه به وی لکه :

د دلبر د یدن په هرلوري عیان وینم

هو نظر ئی په هرځه کی په څوشان وینم

چي می ستر گی د باطن کړي پیر کامل رڼی

په هرڅه کی یود یدن د پاك سبحان وینم

(د یوان ۲۱۲)

## د سالك څه زده ؟

نن هغه سالك د دي لاری ادب زده

چی له دم سره ئی ذکر د پاك رب زده

مرده دل د دل له سره خبر نه دی

په تقلید ئی په زبان د خدای لقب زده

غیرد پوال به ئی حجاب په میان کی نه وی
چی ئی سهل پر فلک لکه کو کب زده
زه «فقیر دولت» به روح په نو ر خه نشم
کل زما درد ودارو ذد لبر لب زده
(د دیوان ۹۹)

**بی الحاده او حلوله خالص توحید:**

د توحید وینامی شوه په زړه نزوله
مبرا ده الحاد هم له حلوله
یو الله دی بی جهته ، تجلی کا
پوشیده دی له دو بین ، ظالم ، جهوله
(د یوان ۴۳)

**یو حق دی:**

په ظاهر ، باطن ، اول ، آخر یو حق دی
نصیحت په زړه کی ونغوږه زما دا
د احد په ملک کې بی احده نشته
تل دا حال په ژبه وایی کل اشیا دا
(دیوان ۱۸٦)

**دوحدت د باغ مرغه د کثرت په ننداره کی:**

دو حدت د باغ مرغه بلند پروازه
ننداری لره راغلی د کثرت یم
روحانی وطن می نه هیریږی هیڅ وخت
د صورت په ملک کی بند په ضرورت یم
(دیوان ۱۳۹)

څلورم څپرکی

# دخوشال خان خټک پا...
# ادبي مکتب کي قصيده...

اوس نو بیا دقصیدی مشهور موسم راغی او د پښتو پلار خوشحال خان ختک پخپل ادبی زیار او ښودنی قصیده هم ترلاس ونیوله، او د روښانیانو له خانقاه ئی بېرته بزم او د رندانو ټولی ته راوسته .

پخپله خوشحالخان او تر ده وروسته د ده د کورنی د یو شاعرانو د پښتو قصیده په صنعتی او فنی لحاظ هم و پاللهء او د مضمون د تنوع له پلوه ئی داسی غنی کړه چی اوس هغه د غوریانو او روښانیانو قصیده چی پر ته له ستاینی او تصوفه ئی نور رنګونه نه لرل ، په ډول ډول مضامینو و پسوللهسوه ، او هر راز ادبی ښکلا ئی پیا موند ه .

اخلاق، حماست، افتخار، شکوه، غندنه، ستاینه ښیګڼه، تبلیغ او تلقین خو کله کله تصوف او توحید او نور ډېر مضامین هم د قصیدې په ښکلولو کې داخل سوه .

په حقیقت کې خوشحال خان د نوي قصیدې ژوندی کوونکی دی . ځکه چې ده د روښانیانو ادبي ضعف او کمزورۍ ته ملتفت دی، او په ډېره خوږه او ښکلې قصیده کې خپل ادبي کارنامې او د ماهقینو احوال داسې بیانوي :

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
دخبرو ملک مې فتح په سمند کړ
مدعي د توري شپې او را ورکي و
د سهېل غوندې مې ځان پانده ځرګند کړ
یو په حال او په ماضي کې هسې نه ؤ
چې ښکاره ئې د خبرو راته خوند کړ
د میرزا دیوان مې وماند په ګوډي
مسخره مې ارزاني خپشکي زمند کړ
که دولت ؤ، که واصل ؤ، که دانو روو
په خبرو مې د هر یوه ریشخند کړ



د قلمي مې ورته مازي کړي د قندو
د اوربشو په ډوډۍ یو چې چاشخونه کړ
لعل و درې ورته ویل د نظم
د مشکینو پنجا ره مې مستمند کړ
هر کلام مې واردات دي یا الهام دي
چې موزون مې په تقطیع د بحر بند کړ
په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کې
عذوبت مې د خبرې چند در چند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنی مې د شیراز او د خجند کړ
د بوستان و نې مې واړه پیوندي دي
حقیقت مې د مجاز سره پیوند کړ

رښتیا هم داده، چې تر خوشحال خان د مخه د پښتو قصیده د روښانیانو په دوره کې داسې وه، لکه چې سړی اوربشینه ډوډۍ خوري. خواوس په خوږ تها او خوندناک کیف کې په الهامي ډول او تازګي د خواجه حافظ او کمال خجندي د کلام سره سیالۍ ته سوه .

د خوشحال خان په قصیده کې د چا غندنه یا ستاینه

یا کومه صله او ګټه مقصد نه وه. د ده کلام د زړه الهام او د محبت کمند ؤ:

نه مې سود نه مقصود شته په دا کار کې
محبت زما په غاړه دا کمند کړ
عشقه ته تر اورنګ زیب پاچا بهتر یې
چې «خوشحال» دې په عالم کې سربلند کړ

دخوشحال خان د قصائدو دیوان ټول تر دوه زره بیته پورې رسیږي. چې ما په ۱۳۱۷ ش کال له قندهاره په ښکلي ډول خپور کړی ؤ. په دې قصیدو کې د پند او موعظت ګټوره ذخیره، د پښتنې اخلاقو او محسناتو ښیګڼه د تعلیم او روزنې نکات او د وطني سندرو خونده وره برخه، حمد او نعت، د جنګ او حماست خبرې، د خپلې کورنۍ او قوم څخه ګیلې مانې، د معیشت او طب او حفظ صحت لارښوونې، په زړه پورې ښکلي تشبیهونه، منظر نګارې او غندنه او کله کله هزل او ملنډې هم شته.

نو په لنډو الفاظو باید داسې ووایو: چې د خوشحال خان قصیده د ده د شعر یوه جامعه برخه ده، چې د شاعر پیاوړی توب او فني اقتدار او ادبي مهارت ښه ښکاره



کوي. هم د فرخي او منوچهري د قصائدو صنعتي ښیګړې لري، او هم د سنائي د حکمت او موعظت معنوي مزایا پکې پراته دي، او هم د پښتو او پښتونوالۍ یوه رڼه هینداره ده.

دخپل زوی نظام په ویرني بولله کې وائي:

څه داغونه پردې په زړه باندې فلکه!
چې نظام دې له ما بېل کړ خوائې دکه
خدایه ته خو ستمګر نه يې داخه کړې؟
خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کې هغه سخ خوري په چینجیو
چې د هیچا پرې پېر زونه وه څوانکه
کشکې ځوان د پښتنو نه په ننګ کې مړ وای
نه چې ګور ته روان شو له تلتکه
چې د قام په ننګ کې ومړ هغه زویه
په عالم کې د خپل پلار غاړې کالکه

په شرقي شاعرۍ کې خو تل شاعر تش ستاینونکی وي. دی د دلاورانو او جنګیالیو مړو جنګي کارنامې او بهادرۍ ستائي، اما پخپله د جنګ ډګرته نه ورځي

خوشحال خان د شاعری سرەسره یو جنګی سردار اود جګړی دمیدان توریالی سپاهی هم دی. نو ځکه دده وینا په جنګی مناظر واود توری اوتوریالیو پهستاینه کی پر یوه واقعی اوحقیقی کیف بناده. اوتل له ځانه حکایت کوی نه له نورو، اوکه کوم وخت دکوم توریالی ستاینه کوی، هغه هم هغه څوك وی، چی دده ترمشر تابه لاندی توری وهی. په یوه قصیده کی خپل زوی بهرام ته وائی:

خودی توان توفیق رسوی بیرون مه شه
په هردم د پښتنا نه لـه ننګه و نـا مـه
ته د چا وجام ته هیله امید مکړه
حریفان دي باده نوش وی ستا له جامه
یا تکیه دیوه خدای ده یا د توري
په جرګو مرکو نه شی کار تمامه
که دی نقش د توری کښینی را ته غوږ کړه
کا مروا به شی ها له له هره کامه
ښه هواتان په خپل هود پری نږدی له لاسه
که ئی سر شی د خونی مزری ترژامه



که تل توری غشی خوری ما تی د جنګ وړی
مرد به سور نشی په زړه له انتقامه

په یوه بله قصیده کی خپل وروستنی ارمان اود فلك د ناوړو سره د ګړی و هل داسی ښکاره کوی، چی د شاعر لوړ همت او پر ځان و یسا ځنی څر ګندیږی:

مرګه! هومره مهلت را کړه په جهان کی
چی جمدر د مدعی په وینو سور کړم
که ئی درست دستوزور را ته ښکاره کړ
بیا فلك سره کشتی پخپل دستور کړم

د خوشحال خان د قصیدو د منظر نګاری او د بهاری تشبیبو نود ګریزاو تخلص ځای پیر ته هم هغه د پښتنو الی ښکلی د نیا او د ننګه او ناموس تود کانون دی. په یوه غرا قصیده کی په تشبیب داسی پیل کوی:

د نوروز سنت په باغ دی په صحرا هم
نورانی ئی شی له فیضه هغه دا هم

دا بهاری تشبیب خود پر ښکلی دی. اما داسی ښکاری چی شاعر د بند اوله وطنه دلیری تا به په حال کی ویلی دی، نو ځکه د قصیدی د تخلص لهجه داسی وراړوی:

د قفس بلبله ژاړی ګريانی کا
چی پهچيری په ګلګشت والوزو بيا هم
په هغوز ما سلام ،مادې هم يا د کا
په ګلزارکی چی نګار لری صهبا هم
خوبها ره مې بې ميو معشوقوځي
داخودرای فلک څهچاری کا پهما هم

دلته د شاعر لوړ همت اود پښتنوالی غرور ښکاره کیږی ، پخپل ارت زړه کی دجهان غمونه ځايوی، اوله دنيا او ما فيها څخه استغنا موسی وائی :

چیوخپلی کامرانی تهمیشا کړه
غم اندوه د فلک نه لرم، پروا هم
دمنت دارو کهمرم په کار مې ندی
کهعلاج لرهمې راشی مسيحا هم
د پرښتو امين منت دی په دعا کی
لاجرم ورځنی پته کړم دعا هم
دجهان غمونهوارهپکیځای شول
شکر داچی زړهئی لوی راکړوما هم

پهدی دونی جنګی اوحماسی تاو ، اود پښتنوالی



پهشور ماشورکی خوشحال خاندمنا ئی په دود د حکمت اوموعظت موثری ويناوی هم لری ، چی سړی لهدی مادیدنيا څخه د يوی بلی معنوی نړی په يا د کیهم اچوی ، لکهچیپه يوه اوږده قصيده کی وائی :

مخ د هغو تورشهچیئیمینی نفسانی دی
يوهمينه باقی ده،نوری کلمينی فانیدی
مهکړه دنسنغوته د هواپه لوریمهځه
واړه دنسچاری شيطانی ، نهرحمانیدی

د قصيدی په پای کی شاعر خاصه روحانی جو له ښکاره کوی ، اودخپل زړه دمقاصدو دپوهو لولپاره کوم ترجمان ته هم اړتيا موسی وائی:

چاوته ويل کړم ترجمان نشته پهمنځ کی
زه سمرقندي يم، ياران واړه ملتانی دی

خوشحالخان اودده زامن اولمسیلکه د پښتو ادب په نوروځانګو کیچی داستادی لاس لری او زموږ ژبه ددویدادبی تخليقاتو مرهونهده ،قصيدههم د دوی په ادبی مکتب کی پهښه ډول روزلی سويده او ادب دې ځانګی ته هيچادونی پرورښت نهدی ورکړی لکه د

ختیکود رڼې کورنۍ چې پدې ښکلې بڼ کې رنګین اوسوونکي ګلونه زرغونه کړیدي .

اشرف خان هجری او عبدالقادر خان او ګوهرخان زامن ، اوشیدا دده لمسی د قصیدې پیاوړي روزونکي دي چې له دوی څخه د پلار پهشان ډیرغرا او بلیغ قصائد په پښتو ادب کې پاتې دي او که ددوی دغه زیبا اوخونده ورآثار نه وای نو به د پښتو څولۍ د قصیدې له ښکلو ګلونو څخه هم تشه وای . ددوی په زمانه کې د هند د بابري کورنۍ تاړاکونه پرپښتنو جاري وو.

دمغولو د اتیري او ناتار خودوی له پاره تریخ ؤ مګرد پښتو په ادب کې یې یو خاص باب پرانیستی دی ځکه د اسرداران ، شاعران چې به له وطنه لیرې سول دوی به د احساساتو رقت او د قریحې حساسیت او د زړه نرمي پیاسونده اودغه صفات د ښه او موثر شعر په تخلیق کې ډیر اغیزه وردي .

## اشرف خان هجری

اشرف خان هجری کله کله خان روهي هم بولي ، د ختیکود کهول یو پوخ او پیاوړی قصیده سرادی . دده په قصیدو کې د وطن د بیلتانه درد او سوی پټ پروت دی اودې



بیلتون دده کلام ته خاص اثر او رقت او د آتشینو احساساتو تودوالی او دوطني اشعارو خاص رنګ او آهنګ ور بخښلی دی . دد کن په منفا کې د روه دغه شیرین نوا بلبل هسې درافشاني کا :

ما هجری ته ئې هجران د کن امیه کړ
ځکه تل دیار له غمه درافشان یم

هجری د هنر دوست او فنان ذوق خاوندؤ ، په یوه اوږده قصیده کې د هنر لوړمقام او د پښتو شاعرانو هنري منزلت تاکلی او په انتقادي نظر دوی هنر تجزیه کوي دا قصیده داسې شروع کیږي چې په ادبي اصطلاح ئې مقتضبه یا محدوده بولله ګڼلاسوای ، ځکه چې کوم نسیب یا تشبیب نلري :

دمردانو پهائي علم وهنر دی
آرایش د ګلرخانو په زیور دی
دهنر پیشه زیور د زیرکانو
هرچې فخر په دولت کاندی بقردی

د هجری په نظر کې آرټ او صنعت پدې نړۍ کې یوه لایزاله پدیده ده او په داسې حال کې چې نور اعتبارات

نیستی کیدونکی دی ، فقط همدغه صنعتونه نری ښکلاسا تی
اوخپل اثر جاویدان پریږدی . دی وائی :

په اقبال د دهر ځای د غرور نشته
د بقا زوال ئی ژر لکه د یگردی
په هغه یارو فرزانه کله نازیږی
چی ئی نن په غیږکی یوسباد یگردی
مهین یار ترعلم نشته په دنیا کی
په دوه داره مدعا اره رهبر دی
که عالم په علم جوړ سلک ئی بوله
بلکه لا تر پر ښتو نه نکو تر دی

دلته هجری د شاعری فن ته ورگرزی، او داسی ئی
ستائی :

هر صفت چی خالق ایښی په بنده کی
تر همه ؤ گویا ئی والا گهر دی
هیڅ تمیز په ئی و نه شی له حیوانه
خود په ژبه آل سمتاز د بوالبشر دی
گویا ئی اگر چه کسب د انسان ده
ولی هرچه سخنور هغه بهتر دی



که سبب ئی گویائی د زبان نده
سکه په څه بلبل په طیروکی سروردی

دلته هجری دخپل قوم د هنری فعالیت لړوالی ته
ملتفت کیږی اودغه تریخ حقیقت په داسی ډول اعتراف
کوی چی دده نقادنظر ځنی ښکاری :

پښتون ذات چی رب پیدا کړله ازله
دود د علم وهنر په کی کمتر دی
که همه قوم پره کړی سر له سره
دا حکمت په خو سکا نه مقرر دی

هجری دخپل پلارپه استادی اوفنی مهارت ویاړی
اوځان ئی مستقیماً خلف او شاگرد گڼی او وائی :

او لا به د استاد له حاله وایم
چی ئی شعر جهانگیر لکه قمر دیء
په پښتو ژبه چی شعر چا بیان کړ
د همه وو نظم ستوری دی، دی نمردیء

څه خوبي د هغه نمر وائي مهجوره
چې ئي نوم د هر نیولي سر په سردی ء

تول ئې وسپاره په ما سریرد نظم
هغه نمر چې نن د خاورو په بستر دی

نن حریف د څواب نه وینم په دور
نه مې یو له سړو په شعر برابر دی

زه محتاج د شاهد نه یم په دا قول
په راستي‌مې دا غراشعر محضر دی

که څوك خیال د جدل کا زما له نظمه
دغه گوی، دغه میدان، دغه احقر دی

زیبا شعر هسې زړه د «هجري» یووړ
لکه زړه د سفله‌وړی سیم وزر دی

د هجري په کلام کې د پخوانو قصیده گویانو اغیزې لفظاً او معناً ښې ښکاري . تاسې د مخه ولو ستل چې شیخ اسعد سوري د پښتو پخوانی بولونکی یعنې قصیده سراد امیر محمد سوري پر مرگ څنگه له فلکه سره گيلې ماني کولې ؟ او څنگه ئې د هغه ویرنه یعنې رثا په مهارت او فني لیاقت سره ویلې وه ؟ او س د هجري یوه شکوه هم



وگوری ء چې د هغه زاړه فکر او بلاغت بخر کې ښه ښکې ځایږي او د منظر نگاري او استعارې کمال څنې ښکاري .

هسې چاری په انسان ولي سما کا
چې یې کارهمه په خټ د مدعا کا

کیفیت ئې مشابه له بازیگرو
نوی نوی سخ له غیبه هویدا کا

ماه ومهر جوړه مهرې د حقه بازو
په ماښام یوه په خوله بله پیدا کا

توره شپه گویا پرده د نیرنگیو
و هر چاته روزانه بازی نما کا

سره مهره په لپوونیسی تیاره شي
بیا عطسه د شپې مصدره د سبا کا

زمکه سره لکه شهپرشی د مورانو
چې پیدا له فمه زاغ د زرو ها کا

د مراد باده څرگنده کا سړی ته
بیا ئې زرور څنې پته په جفا کا

نه به یار و یارته وبخښې قسم دی
نه به څوك څنې حاصله تمنا کا

بیا په کله د رخو وکا سینګارونه
چې لمبه د حسن ستر ګې یې جلا کا
نه په بیا آدم شمله په ځیره کیږ دی
چې د رخو ئې سینه یخ په تماشا کا
د ګردون هسې روش دی ء له ازله
دوه سین په زجر تل سره سوا کا
هر زمان چې خنجر وکا ږی د قهر
له ګدا په برا برلوی امر اکا
د فاضل په فضیلت ئې رقت نشته
نه ئې توره لږ ادب د او !یا کا
د اویل به ارمان کېږدی په وګړی
که قرأت ئې په منبر با ندی ملا کا
چې آخر وفا له سرده موندې نشی
مرد هغه چې په حیات همه ترشا کا
« هجری » د ردی پیوسته د حقیقت کړ
کیفیت ئې کانی زړه هم په ژړا کا

وګوری ء د شاعر په فکری چاپیر کې تل د زمانې سیاسی او اجتماعی اوضاع اغېزه منوی .



د اسعدسوری او دخوشحال خان دزوی رثائی قصیدې هم ویرنې او شکوې دی .

خو هغه وخت د پښتنو سیاسی عظمت د فکری استقلال او پرځان ویسا او دورحی تینګار او صلابت مؤیدؤ . په ویر اوما تم کی هم شاعر له دنیا څخه فرار نه کاوه ، او د یاس او قنوطیت څپو نه لاهو کاوه ، مګر د هجری عصر خود مغولو د پردی سلطې او اقتدار د لوړتیا وختؤ ، د لته د پښتنو ملی مرکزیت د دووغښتلو شاهنشاهیو تر منځ تری تم ؤ او خوشحال خان غوندی پیاوړی سردار او د آزادی د جنګ نومیالی مبارز او اور ژبی شاعر تر خاورولاندی سوی ؤ ، نو ځکه د هجری په کلام کی یو د یاس او نومیدی رنګ ښکاری . په کوم ځای کی چې اسعد سوری او خوشحال له خپلی ویرنی او شکوې څخه هم د ژوند او قومی افتخار لپاره نتیجه راباسی ، هجری د ملی سر ینی په ګروم او ویر کی د نیا او ما فیها ته شاکوی ، او وائی :

« مرد هغه چې په حیات همه ترشا کا » .

دادی ء د بل واکی او بدبختی لوی نښان چې زموږ په قومی شاعری کی د کورګا نیانو له مظالمو او جفا و وڅخه پیدا

سوی ؤ، او پښتنو دړیسوه کاله ددغه اجنبی تاړاکه سره مبارزه کوله. مګر سره ددې چی ددغې دورې په ادبی آثارو کی ډیری د ګروه ډکی انګازی پاته دی، خو پښتون مهجور شاعر بیا هم خپل وطن او دملی ژوندون او افتخار مرکزنه دی هېر کړیء لکه چی هجری وائی :

که نصیب بنده بندکړی په دکن دی
د امنګیرئی همیشه عشق د وطن دیء
دزړه با زئی تل دروه په زمکه ګرزی
که «هجری» په دکن نا مستخالی بدن دی

## عبد القادر خان

د خوشحال خان بل زوی عبدالقادر خان چی د ۱۱۰۰ ه کال په شاوخوا کی ژوندی و، د پښتو لهښو قصیده سرایانو څخه و . دی د خوشحال خان د مکتب پیاوړی اولوړی شاګرد دیء . او د شعر په ښیګړو او ادبی مزایاوو کی پس له پلاره دی استاد ګڼل کیږی .

دده ورونه هم د پښتو مقتدر شاعران دی خو پخپله اشرف خان هجری هم عبدالقادر پس له پلاره په لوړی پوړ شاګردانو کی ګڼی او وائی :



اوس ئی وایه حقیقت د شاګردانو
چی هریو لهدې هنره بهره ور دی
قادرخان که بحر بولم دروغ ندی
چی ئی فکر د اصلی درو مصدر دی

دعبدالقادر خان له قصیدو څخه اوس موږ فقط نه قصیدی دده په چاپی دیوان کی مومو، چی ما په ۱۳۱۸ ش کال لهقندهاره چاپ او خپور کړیء دیء.

په دغو قصیدو کی ثنا، عرفان، حکمت، موعظت رثاء، شکوه، انتقاد او منظرنګاری تولهسته او ځینی قصائد ئی ښکلی تشبیبونه هم لری .

عبدالقادر دوینا په روانی او خوږ تابهکی خپل پلار ته ورتهدی، او په لفظ او معنی کی هغسی پیاوړ- توب لری، او غزل ئی ډیره مستانه ده، مګر په قصیده کی ئی روحانی رنګ غالب دی، او هغه مطالب وایی چی سنائی پس له خپلی فکری اوښتنی، پخپلو عرفانی قصیدو کی ویلی وه .

ښایی دا به د هغه خهاثروی، چی عبدالقادر دخپل سیاسی کړاو او بیلتانه په وخت کی د نقشبندی طریقی

د یوه‌مشهور عارف‌شیخ‌سعدی لاهوری لاس نیوی کړی و اودغه طریقت پەدده فکرخاص هغومعناووته گرزولی وی ، چی د یوه مطیع مریدسره ښائی .

دعبدالقادر په‌غزلو کی شور اومستی اود تغزل ښکلی آهنگ اودشاعریت مظاهر ډیرسته ، په قصیده کی یی دغه‌مزایا لږوی. که‌څه هم پرالفاظو بشپړه‌سلطه لری خود فنی تخلیقاتو اندازه ئی په قصیده‌کی لږ ده او په واعظانه ډول خپل‌مطالب سیده‌اداکوی. مثلاً دجهانداری او سیاست دښیگړو په تلقین کی دده له قصیدوڅخه دغسی بیتونه راوزی :

چی‌دظلم اورئی بل کړ په‌عالم کی
ظالمان په‌ځان‌سوځته‌په‌دغه نارکا
پخپل‌ځان باندی ستم کا نه پوهیږی
چی‌ستم په بی‌وزلانو ستمگار کا
چی پر تله ترپلی لادسپاره سخت‌دی
بیائی په پلی ولی شهسوار کا
لا یزال دی سلطنت د گدایانو
دزوال ویره ئی نشته نه‌ئی ډارکا



د پښتو شاعرانو په وینا کی دمیړه اومیړنتوب دصفاتو په‌ځرگندونه کی ښه ذخیره‌سته، اودا دپښتو داخلاقی شاعری یوه‌غوره برخه‌ده . خوهرشاعردخپل فکری استعدادەسره ددغو صفاتو ځرگندونه او څیړنه کړی‌ده اوخپل نظر ئی دمیړه دلازمی صفاتو په شرح کی ښکاره‌کړی دی چی‌موږ له‌دغه ډول اشعارو څخه دهغه‌شاعر فکری‌سویه اودده‌د فکر مجاری معلومولای سو ، مثلاً خوشحال‌خان دمرد په‌ستاینه‌کی دده لپاره دغه‌صفات ضروری گڼی :

مرد هغه چی همت ناك برکت ناك
دعالمه سره خوږ په زیست‌و ژواك
مخ یی مخ ، قول ئی قول ، عهد یی‌عهد
نه دروغ ، نه ئی فریب ، نه‌تش تپاك
چی خبره د پستی د بلندی شی
په لوئی لکه‌آسمان ، په پستی خاك
په تمکین کی لکه‌سبر ، په پستی کی
په هرلور ځانگی ږنگری لکه تاك
لکه‌گل شگفته روی تازه په‌باغ کی
همیشه د ښو بلبلو پر بلغاك

د خوشحال خان دتصور او تخیل ټیلی‌د مېړنتا به په ښرگندو نه او توضیح کـی تل دپښتنوالی او ساد ی ټری پرده‌ گـر مخغلی له ژوندا نه سره اړه لـری ، اود ژوندا نه خبری کوی .

مگردده دزوی د تخیل‌چاپېر بېل‌دی.دعبدالقادر په تصویر کی دملائیت مځینی نخښی ښکاری اوداسی ښرگندیږی ، چی‌د مدرسی او خانقاه ما حول دده په قصیده کی اوښار اثرونه پریښی دی . او هغه څه چی خوشحال‌خان دمېړنتا به‌په لوازمو کی نه گڼل، دده زوی هغه هم پکی داخل کړی دی ، اودا هم دعصر دهغی خاصی دینی‌روحیی اغیزه ده ، چی دشرق اکثر اخلاقی شعر هم دغه رنگ لری حتی‌چی حضرت سنائی شاعرته هم‌ددغی لاری تلقین کوی او وائی :

توای‌مرد سخن‌پیشه ! که بـهر دام‌مشتی دون

ز دین حق بماندستی ، بـه نـیر وی سخندانـی

چه مستی‌دیدی ازسنت، که‌رفتی سوی بیدینان

چه تقصیر آمد ازقرآن ! که‌گشتی گردلامانی

عبدالقادر دمېړه په ستاینه کی دغسی ماد ی او



د ینی صفات‌سره گډوی. دده یوه قـصیده داسی شروع کـیږی .

مرد هغه چی‌په‌بخش لکه‌دریاب وی
په‌ښه، بدبا ندی مشفق‌لکه آفتاب‌وی

لکه مځکه هسی پست په تواضـع وی
دوا ړه عالم مرجع وی هم‌مآب وی

په ثبات‌کی ترغره لاثابت قدم وی
په صفا اوپه نرمی کی لـکه‌آب وی

تل ئی وچولی‌دمیاشتی غوندی ویل وی
دوست‌دښمن ئی له‌دیداره کامیاب‌وی

قناعت لـکه همای پـه استخوان کا
نه‌ظالم ، نه‌حرصناك لکه عقاب وی

چی‌دظلم لمبی بلی پـه عالـم شی
پری بریان دده خاطرلکه کباب‌وی

تردی وروسته زموږ دشاعر په‌تصورکی‌دخانقاهی تلقینا تو اثرداسی ښکاری :

په نعمت کی شکرکا ، په محنت صبر
زړه ئی تینگ په‌مسبب نه‌په اسباب‌وی

په قضاد حق راضی خورم خورسند وی
ورته یوجنت دوزخ ، ثواب، عقاب وی
یو زمانی زړه خالی نه وی له یادو
که په ناستی ، که په تللو، که په خواب وی
اوامر لکه سنت اداکو ینه
پټ ، ښرگند له نواهی په اجتناب وی
که اشیا ورته ښکاره کما هی ، شی
مناجات ئی زد نی علماً ، یا وهاب وی
عام عالم ته ناست ښکاریږی په رفتار کی
دوصال ترشپی لا تله دده شتاب وی
لا تاثیره ئی ښدېښه ، لکه سره زر شی
په لمبو دعشق سوخته لکه سیماب وی
څوچی گرزی دد نیا په خرابات کی
په باطن کی آبادان، ظاهر خراب وی
دډك سیند غوندی آواز نکا بهیږی
نه پر شوره، پرغوغا لکه سیلاب وی
د دانا سوال، ځواب په ادب ورکا
واحمق ته یی په پټه خوله ځواب وی



دښو بوی یی په همه دیار پریشان وی
د رست وجود ئی په معنا دمشکناب وی
په ظاهر جاسه له خلقه سره خلق
په باطن کی تابعین وی یا اصحاب وی
هغه سرد ، ولی گنه «عبدالقا دره»
چی عمل ئی په سنت او په کتاب وی

وگوریء د فکري تحول آثار ، چی له پلاره ترزویه پوری ئی څونی فرق کړیء دیء ؟ دخوشحال ایډیال سړه ، یوعالی همت او پرخپل بول ولاړ ، رښتین او درو ند اود ورین تندی خاوند پښتون دی چی وسله ئی پسول او تکیه گاه ئی فقط خپل همت اوخپل سړوند دی مگر دعبدالقادرخان سړه یوشاعر اوصبور اوله خدایه ویرید ونکی ذاکر اوپرکتاب اوسنت ټینگ اوخاموش غوندی خا نقاهی زاهددی ، چی تلقین ئی هم هغه له دنیا څخه فرار اود نفس او ژوندا نه اود هوا او هوس دکوډ لی و را نیده .

عبدالقادر په یوه قصیده کی وایی :

دبقا بهبود ئی هیڅ نشته فانی ده
په دنیا چی مینه کاندی نادانی ده

د دنیادخلقو کار راتـه ښکاره شو
د سیلاب پهمخ ئی کړې ودانی ده

داچی ته یی ودانی گڼی نا پوهـه
د عاقـل تـر فـهم عـین ویـرانی ده

عبدالقادر دخپل پلار خوشحال خان او خپل ورور معظم پرسرگ رثائی قصایدهم لری ، مگرددغو قصیدو فکری جوله هم هغسی خانقاهی او ملائی ده ، دکوم خاص اونوی فکر پرورښت نهپکی ښکاری . خوسره ددی هم ځینی ادبی ،دو یلوړمعانی لري چی دخوشحالخان په ویرنه‌کی یی دغه بیتونه پهادبی لحاظ ښهدی :

اوښکی هم دوچیدو له ویری ولاړی
له تودی تیغنی می گرمه تتر لا ده

د فراق پهاوردی وسو نومی وچ شو
اوس می تل پهوچو سترگو ستا ژړا ده

پهبهانه دآه خپل‌دم راځینی دروی
له هـمد مو بـیهو ده گـله ځمادده



له دې لنډې څیړنی ځخه پهپای‌کی موږ دانتیجه اخلو ، چی عبدالقادر شاعر دی ، خو مفکر نه دی . پرالفاظواوادبی تعابیروکی قدرت لري ، مگر د فکر غولی یې تنگ اومحدود اوپه خانقاهی تلقینا توکی نغښتلی دی . له ځانه سره دفکر کوم خاص اسلوب اوجوړښت نهلری ، او لکه خپل پلار موږ ته دیوې خاصی فکري دنیا نمایندگی نسی کولای . خو که دعبدالقادر په شاعری کی کوم کمال او ښکلا وي هغه نودده پهغزل‌کی ده ، چې دپښتو غزلی په څیړنه کی بهموږ ده ته بیا پوره برخه ورکوو.

## سکندر خان ختك

دخوشحال‌خان‌ددرنی کورنی یو بل ستوری دده زوی سکندرخان دديوان خاوند ښه شاعردی . دده لهخپله کلامه ښکاری چې په ۱۰۹۰ ه کال د۲۲ کالو ځوان و ، نوئې دزیږیدوکال د۱۰۶۸ ه کال پهشاوخواکی ټاکلای سوای .

کله چی د۱۰۷۳ ه کال‌په دریمه‌خورکی لوی‌خان دکورگانی پاچانوکرانوونیو او ډهلی ته ئې واستاوه نودده کله ی اوزامن لکه جلال‌خان اوسکندرخان او

اوګوهرخان اوعجبخان چی کوچنوتی وو ، دخپلو مندوسره لهاکوړې څخه د یوسفزوپه سیمه کیبا ئیزوته ولاړل ، دامطلب خان پهخپله فراقنامه کیداسیوایی:

هغه ملک واړه ثمر دی چی پکې زما سکندر دی
تردې وروسته چی سکندرځوانیږی ، نو په اکثرو هغوواقعوکی چی دده پلار اوکورنی ته ور پیښیږی دده نوم هم یادیږی ، او په ۱۰۸۸ هدا میر خان صوبدار (حکمران) سره دخپل پلار پهامرکابل تهولاړ او تر ۱۱۰۰ ه اودخوشحالخان تر مرګه ور وسته چی اشرف خان دده مشرورور دډهلی پاچا اورنګزیب اته کاله بندی کیء دختکودخانی لپاره دخو شحال خان دشیلی ښویدلی زوی بهر ام خان ، او د افضل خان داشرفخاند زوی ترمنځ شخړې روانیوې سکندرخاند خپل وراره پرخوا ؤ. دی پخپله وایی :

دپیښېوار اوس په سکندر راوړه فلکه !
رقص دی وکړد منحوس بهرام په کام
په شلمه د رمضان په جان کړ کی
افضل خان سره یکرنګ په اهتمام



که تاریخ دسن وسال غواړې لهمانه
دا بجد په حروف عین غین ، لام
جانه کړلهپښورهشرقی پلوته دچراټ پهجنوبکی دآدم خیلو اپریدو ځای دی اودغه واقعهد (ع ۷۰ + غ ۱۰۰۰ × ل ۳۰ - ۱۱۰۰ ه ق )ده ددهدمړینی کال موږ ته ندی معلوم ، خودونی پوهیږو ، چی ترشعبان ۱۱۱۶ ه ق پوری ژوندی و ، چی په همدغه تاریخ ئې دخپلوزامنوویرنه (مرثیه) ویلېده ، اودافضلخان په تاریخ مرصع کیهم دده احوال لږ وډیرراغلی دی.

دسکندرخان دشعر دیوان د پښور ادارهٔ اشاعت چاپ کړی او دوهم ځل په ۱۹٦۲ م کال خپور سوی دی ، چې دښاغلی دوست محمد کامل په اهتما م او مقدمهښکلیدی، اوغزل ، قطعه ، رباعیاوقصا یدلری.

دده غزل لطافت او خوږوالی اوپرمضمون آفرینی باندی قدرت ښیی ، تعقیداوابهام نهلری ، په سا ده الفاظو اوترکیبونوکی مضامین ځایوی دا غزل ئې دنمونې په ډول زه انتخا بوم :

ځوږ کانهکړه دغما زو وپیغور ته
سزری نه ګوری دمپیو شر وشور ته

د یار خیال راغی وسترگو ته شرمیږم
چې داخه عزیز میلمه راغی وکورته
نرگس هسې ستا شهلاسترگو بیمارکړ
په قوت شو دهمسا له مزکې پورته
دهجران لمبې ئې لا لیدې سوزانې
ځکه ځان هندوې واچوه واورته
له هغوخاورو داعذار لاله پیداشه
چې ئې داغ دښکلې مخ یوورو گورته
خط وخال چې ئې رقیب وته څوك ستا یې
دمصحف توری نقطې ښایې وکورته
درست صورت مې لکه کسې شوله شوقه
چې دیدن دهغه یارکړم وهرلورته
پرقوته لینده وشلوی ژر ژبه
زور ورځه دی دچرخ وهوسره زورته
حال دی هیڅ راځخه پټ ندی «سکندره»
په فراق کې ناریږمه وهه په زور، ته
«سکندر» زړه غم ته ورکړ راشیء گوریء
په ساتنه ئې خس وسپاره واورته



دلته دچاپې نسخې په دریم بیت کې «ستا شهیدسترگو» راغلی دی ، چې معنا نلري ، او باید صحیح ئې شهلا سترگې وی . په آخر بیت کې« وغم ته » دبیت وزن ورانوی ، باید (و) حذف شی .

دسکندر دکلام په تولو اقسامو کې د تصوف او عشق اومینې او اخلاقو په مضامین ستہ ، اوداسې ښکاری چې ددهٔ له شاعرانه طبیعته سره ادبی مطالعات او گڼ معلومات هم مله وو، اوو یناٸ ئې هم پوخوالی اوصلابت لری، او هم خوږ والی اوسلاست .

دده په گرده شاعری باندی تبصره د دې ځای سره مناسبه نه ښکاری ،ځکه چې زموږ څېړنه تش په قصیدو پوری اړه لری، اودا دده دیوان دوهم توك دیء چې له ۲۱۳ مخه شروع کیږی .

دسکندر ادبی اوشاعرانه مروچی او د هنرتجلا دده په غزل کې تر قصیدې ښه ښکاری، نود ی په حقیقت کې غزل ویونکی شاعردیء، چې کله کله قصیده هم وایی خوقصیده ئې نه دغزلو ښکلا لری، او نه د قصیده سرایی آداب اولوازم .

دی په خپلو قصیدو کې نېغ په مطلب شروع کوی تشبیب یا نسیب او تمهید نلری ـ ځکه خپل مقصدوایی اود کاکړو په اصطلاح «یوګای» کوی ، او هغه پخه پورا یه او تمهیدی خبرو کې نه ننغاړی . مثلاً اخلاقی قصیده او د نصیحت وینا ئې داسې ده :

ته چې فخر په مردی کړې د بابا
راښکاره دی شومردی ، دروغ یې بابا !
دور غږن ، زانی ، ممسک به سردار نشی
هم بخیل ، قول بیعت چې کا ابا
مه به ګوی شه مه فحاش شه مه زود رنځ شه
په ښه خوی کې آراسته اوسه زیبا
لکه زمکه هسې پست هميشه اوسه
چې ښه به درپاندې ځې سبا بېګا

په دې ډول داقصیده شل بیته ده ، خو نېغ نصیحت دی ، کوم شاعرانه هنریاد مضمون نکلانلری ، او لکه د یوه اخوند غوندی وایی : ښه کوی ، بد مه کوی !

سکندرخان خوحساسه طبعه لری ، شاعردی ، د کلام قدرت ئې په غزل کې ښه ښکاری ، نکته آفرین دی ،



د دغی غزلی په هر بیت کې یوه ځانګړی معنا لری . په دوهم بیت کې د یار خیال او عزیز مېلمه او په څلرم بیت کې د نرګس ناروغی او په همسا پورته کېدل او دیار توری سترګی او په پنځم بیت کې دستی کېدلو علت او په پنځم بیت کې له خاورو څخه د لاله ګل راتو کېدل او په اووم بیت کې یوه صوفیانه نکته او دجهانی جمال ځلا داسې تخیلات دی ، چې په پښتو کې ئې د تعبیر او تصویر او قوت بیان ښې نمونې ګڼلای شو . د اووم بیت جمالی آرزښت د دری ددې بیته سره او پرته پراوره درېږی :

در هرچه بنگرم تو پدیدار بوده یی
ای نانموده رخ توچه بسیار بوده یی !

نه پوهېږم چې سکندر خان دخپل طبیعت دغه استعداد او قوت او نازکی او لطافت ولی په قصیده کې نه دی ښکاره کړی ؟ د ده د پلار اوورور هجری ځینې قصاید خوادبی ښکلا په پېخرو پېخرو لری .

په دیوان کې ترا تېا بیته زیاته یوه اوږده قصیده لری . په دې مطلع :

ځینې څه کارونه شی په دا جهان اوس
خصوصاً فتنه فساد په دا ایوان اوس

وګوری، بېله‌کومه تمهیده یا نسېبه نېغ‌خپل مطلب ته ورننوزی. دی‌حق لری، چې دخپل عصر له‌ناوړوځنه شکوه وکی، ځکه چې د زمانې غالبو ظالمو حکمرانانو یعنې دډهلی پاچهانو دټول هند ثروت او د مظلومو وینې زبېښلی، اود ډهلی اوآګرې ماڼۍ ئې په‌جوړولې او دملوك طوایف ډماسې پرګرده نیمه وچه بانډی د ننګېدلې. دغه‌ټول فساد ونه‌چې سکندر پخپله‌قصیده‌کی ښای کړی دی، تاریخي‌واقعیتونه دی، اود فیوډالی نظام طبیعت اوخاصیت هم دغه دیء.

وګوریء: دشاه جهان زوی راولاړېږی، اوخپل پلار نیسی، په‌زندان کی ئې‌غورځوی، خپل ورور تر غاړه نیسی او خوله ئې وربېتوی. پرګرد هندوستان باندی دامن الملکی نغارې وهی. دلته به دمظلومو بزګرانو او خواری کښانو او بې وزلو رعیتو حال څه وی؟ سکندر په‌دغه قصیده کی وایی:

سروت، وفا، رښتیا له د نیا لاړل
ځای (ئې) ونیوه دروغ، مکر (۱)، بهتان اوس

(۱) په‌اصل (کی) مکرغلط چاپ سویءدیء.



که‌پخواد هر بهارو، اوس شومنی
چې هر لور آه وفریاد کارنځوران اوس
نه هغه لؤلؤ ګوهر له‌دریا ووزی
نه هغه‌لعل‌ویاقوت له‌بدخشان اوس
نه‌هغه باران په‌وخت له‌اورو اوری
چې‌تمامه مزکه وکا ګلستان اوس
دماضی ایام شاهان به‌کوم‌کوم‌شمارم
په‌به نام‌واړه جهات دی‌په‌دوران اوس
یود دوی غوندی ځمایه عصر نشته
چې لایق دسلطنت‌وی په‌دوران اوس

په‌دې د ول سکندردخپل عصرتول‌معایب‌اوناوړی په‌دی قصیده‌کی رابرسېره‌کوی، اودخپل‌چاپېر دخلکو اخلاقو اوسلوك ته‌دانتقاد ګوته نیسی:

په راتلل د تنګسی څه په اوریدل
لوروپه‌لور درخخه‌لاړشی همرهان اوس
که‌دیار د بیلتانه په تیر زخمی شې
په‌طلب‌ئې طالب‌مشه‌ددرمان اوس
درې څلورچې سره‌ناست‌وی‌مه‌وردرومه
سراسر دی په‌ورتل کی وینم زیان اوس

دسکندردعصر په ټولنیځ ژوندانه کې درياکارو او مغرضوشيخانوډله هم دګوت نيوی وړوه، دی حقيقي شيخان اودصافوزړونو خاوندان اوهغه رهنمايان چې په فساد اوناوړو ککړنه وی ښه بولی، خوپر ريايي او کرغېړنو مدعيانو باندی داسي انتقاد کوی :

که بايزيدو، که ذوالنون واړه ښکاره وو
هسې نه وايم چې نشته بزرګان اوس
د عالم له بدخويي پټ شيده او سي
په جبال او په ځنګل، په بيابان اوس
يکښې اوردی د تګې ويسا پر مکره
چې لړلی په ايرو وينې جوګيان اوس
پنداورونه ئې پراته په سجاده دی
په دا مکر، فن اکثرو ينم شيخان اوس
شپ وروزچې تسبيح اړوی په لاس کې
خپل حساب کاندی د زرو عالمان اوس
دد نيا په جمعيت په فکرو غم دی
په زانو مراقبه شی متقيان اوس
روايت دمعتبر کتاب منسوخ کا
چې سکه د زرو ووينی قاضيان اوس



داخو درياکارانو اوزاهدنمايانواورشوت خورو قاضيانو غندنه وه، چې دسکندر خان دعصر د ټولنې په ورانۍ اواجتماعی فسادونو کې يې برخې نه وو، اوس ددغې اجتماع د فساد بل اړخ وګورئ :

بېګا نه ورته قرين وينم تر خپلو
خوی خصلت دسردارانو شود اشان اوس
جاهلان ورسره خوښ په مسند ناست وی
دعالم التماس نه ور وړی دربان اوس
سيه تور داغ ئې ښکاره دزړه په مر شي
چې له کوره دده ووزی سوی نان اوس
وينې سرې دمظلومانو نه دی څه دی ؟
چې پرې سقف، ستنې رنګ کا دايوان اوس
رحمدل ، خدا ترسان به عامل نکا
دا ظلم به عملدار وی ظالمان اوس
په کښتونو ئې دملک باران نه ووری
چې په ځای د اېر ژاړی يتيمان اوس

داقصيده دسکندرد عصرداجتماعی حال او دخلکو دژوندانه او مسلطوطبقاتو د تېريو اوناخوالو هنداره

ده ،اوکه ئې موږ په قدیم ادب کی نظیر وغواړو ،نو د ناصرخسرو یا سنا یی د ځینو قصیدوسره به شبا هت وموسی. ځکه دغه دواړه شا عران دغسی دخپل عصر نا وړی غندی اوسخته انتقا دی ژبه لری .

دسنا یی ځینی اخلاقی او اجتماعی گټه وری قصیدې هم کوم تشبیب او تمهید نلری ،نیغ په نصیب اوانتقاد پیل کوی ، اوسکندر هم په قصیده کی دسنا یی غوندی نقا ده او نیغه لهجه لری .

تاسی دلته د سکندر د قصیدې منتخب یوځو بیتونه وکتل ،چی د حضرت سنا یی یوه دری قصیده هم دغه شانته مضامین لری ،او گمان کیږی چی سکندر به دغه قصیده ضرور لوستلی او خپله پښتو قصیده به ئې هم دسنا یی د انتقا دی او اخلاقی وینا تر اثر لاندی ویلې وی ،واروی دسنا یی ځخه یو څو بیته :

ای مسلما نان خلا یق حا ل د یگر کرده اند
از سر بی حرمتی معروف ، منکر کرده اند
کا ر و جاه سروران شرع درپای او فتاد
زانکه اهل فسق از هرگوشه سربر کرده اند



پاد شا ها ن قوی بر داد خوا ها ن ضعیف
سرکز در گـاه را سد سکنـد ر کـرده ا ند
ملک عمرو و زید را جمله بترکان داده اند
خون خشم بیوگان را نقش منظر کرده اند
عا لمان بی عمل از غا یت حر ص وا مل
خویشتن را سخرهٔ اصحاب لشکر کرده اند
خرقه پوشا ن مزور سیرت سالوس وزر ق
خویشتن را سخرهٔ قیما ز و قیصر کرده اند
گاه خلوت صوفیان وقت با موی چو شیر
ورد خود ذکر برنج و شیروشکر کرده اند
خون چشم بیوگا نست آنکه در وقت صبوح
مهتران دولت اندرجام وساغر کرده اند

دسنا ئی دغه قصیده دخپل عصرهنداره ده، او دا د شاعرهنراو د سروچ کلام اثر دی چی موږ د اخلاقی او انتقادی شاعری په ښیګړو رود یږو ، اوترده وروسته د یرو شاعرانو پخپلو ژبو کی د ده اغیزه منلی او دعصر داجتماعی او واقعی مناظرو عکاسی ئې کړی ده .
سنا یی په پای کی وایی :

ای مسلمانان دگرگشته است حال روزگار
زانکه اهل روزگار احوال دیگر کرده اند
ای سنایی پند کم ده کاندرین آخر زمان
در زمین مشتی خرو گاو سروبر کرده اند
( د سنایی دیوان ۱۵۰ )

سکندرهم خپله قصیده داسی ختموی ، چی د سنایی له کلامه سره یی شباهته لده :

چی په دا مکر فسا د زمانه وینم
لاعجب که سلامت یو سم ایمان اوس
ننداره د نیک و بدو کړه سکندره !
چی څه چاری کا عالم په دا آوان اوس
وهر بیت و ته ئې گوښی گوښی گوره
آیینه ده دسکندر گوره جهان اوس

اشرف خان هجری د سکندر ورور ، په خپله یوه انتقادیه قصیده کی دده شعر داسی ستایی :

د سکندر شعر له څه سره مخی کړم
طبیعت ئی ډیر تر درو منور دی ،
د اشعارو ملک ئې همه په ژبه خپل کړ
په سریر د نظم شاه بل سکندر دی ،
( دهجری خطی دیوان ۳۳ )



لنډه یی دا چی سکندر خان د خوشحال خان دزامنو شاعرانو په لومړی صف کی دریږی ، او په تېره ئې بیا غزل خورا خوږه او دسهلوور اوخوند وره ده .

## گوهرخان خټک

دخوشحال خان درنې او دمتاینې وړ کورنی چی پښتو ادب ته کوم خدمتونه کړی دی ، ددوی په سبب دخټکو کام د احترام وړدی ، .

ما ددې کورنی پر قصیده سرایی باندی څېړنه او کتنه تردې ځایه رارسولې وه ، چی متأسفانه ددماغی او قلمی کارونو دډیرښت په سبب داسی ناروغی راته پېښه سوه ، چی بایدد طبیب په مشوره ښت قلم کښېږدم ، کتاب او کاغذ هم پریږدم . ځکه نو پر سکندر خان باندی هم لنډ لنډ ورتیدم ، اوددې دپاره چی د خوشحال خان د زامنو څخه یو بل قصیده ویونکی ناپېژندلی نه وی پاته سوی ، ناچاره یم چی دابحث پوره کم ، او یو څو لیکی پر گوهرخان باندی هم وکاږم .

راسی ، چی لومړی خو گوهرخان ار څه وپېژنو :

دی د خوشحال خان له زامنو څخه دی، چې د خپل پلار سره له کوچنیوالی څخه ترڅوانی پوری په اکثرو سفرو نو او جنګی واقعو کی ملګری ؤ (تاریخ مرصع ۳۲۲، ۳۹٦) او کله چې خوشحال خان په ۱۱۰۰ ه ق کال وفات سو ده په دغه مثنوی کی د وفات تاریخ وایه:

خان خانان وقدوهٔ افغان    آن حکیمی سر خرد مندان
چون به هفتاد و هشت سال شده    چو الف بود، همچو دال شده
روز آدینه بود، چون زجهان    رفت وما ندیم ما به آه و فغان
غرهٔ ماه مهر بود آن حوت    که به لب می نهاد مهر سکوت
بیست و هشتم ربیع آخر بود    که امین جان پاك او بر بود
چون ز تاریخ فوت خان خبرم    شد «زما رفت زین جهان پدرم»
(تاریخ مرصع ۳۸۲)

ترخوشحال خان وروسته چې په قبیلوی رقابتو نو کی افضل خان د اشرف خان زوی او د ګوهر خان وراره بر یالی او د ختکو خان سو، نو ګوهر خان هم د خپل وراره سره ملګری و، خو د سیاست چاری ئې هغه ته پر ښې وې. وخت ئې په علمی او ادبی چارو تېراوه، دده د یوان ما ندیء لیدلیء، خو یو غونډ او ضخیم منثور کتاب ئې د



قصص الا نبیاء په نامه ۳۰۰ پاڼې ما د پېښور په موزیم کی کتلیء دیء، چې په د پرش بابه کې ئې د حضرت محمد صلعم سیر او انساب او احوال او د خلفا ی راشدینو تاریخ د ډیرو عربی او فارسی معتبرو کتابو په حواله ترجمه کړیء دیء، او د پښتو نثر په غورو آثارو کی راتلای سی.

ګوهر خان په دې کتاب کی ځای پر ځای خپل اشعار لکه غزل، قطعات، رباعیات او تغزلات او قصاید راوړی او د کتاب نثر په ښکلیء کوی.

دا کتاب ئې په ۱۱۲۰ کال د خپل وراره افضل خان په نامه کښلی او د دغه ادیب او مؤرخ او مقتدر خان ادب پالنه او د پښتو کتابو نو را ژوندی کړنه ئې ستا یلې ده.

دی وایي: اګر چه پښتو ژبه په علت د دورفښتی هو نبره لذت نلری چې عربی او فارسی سره نسبت شی، لیکن از راه ضرور پښتنو ته هم په پښتو ویل بهتر دی، او سنت الهی هم پدا جاری دیء. هر کتاب چې به نازلېده، هم د هغه قوم په ژبه به نازل شه، دا پدا چې د هرچا پخپله ژبه فهم کیږی:

دوه یاران چی راز دزړه ترېله نما یی
بایده دی چی پخپله ژبه وا یی
د فارسوانو کن مکن ویل څه سود کا
پښتنو ته کړه مکړه ویل ښه ښا یی

دکتاب دمضمونونو په ترڅ کی ، ځینی مفیدی اخلاقی او اجتماعی توتې داسی ځایوی :

مال چی دی وخوړ ، هم هغه ستا دیء
چی له تا پا تو شی نور د نورچادیء
که دی څه وښنده د خدای په لوری
مال دی هم دادیء ، مال دی هم دادیء

د گوهرخان د فکر جولانگاه هم هغه دینی او مذهبی چاپېر دیء ، او دغه کتاب ئې هم په دینی احساس او روحانی داعیه د دینی لویو لار ښوونکو پر احوال کښلی دی . نو ځکه د ده قصیده هم دغسی رنگ لری ، او په دینی پیرایو سمبا لیږی .

د قلب السیر په سریزه کی د حمد و ثنا یوه ډېره اوږده قصیده لری ، چی د حضرت محمد صلعم پر نعت او دعا ختمیږی او داسی ښکاری ، چی سړی په مسجد کی د یوه ژبور اخوند خطبه اروی . دا قصیده داسی شروع کیږی :

که و ینښته یی په تن ژبی صد هزار شی
بیا ثنا د حق پرې څو رنگه تکرار شی
هم می عمر شی په زر لکه کالونه
د بیحد ثنا بیعده نه به شمار شی
که سیاهی قعر دریاب شی نور سیندونه
یا قلم د جهان کل واړه اشجار شی
که کاغذ شی داوو سزکو سخونه
بیا پر یو صفت رقم د لوی دادار شی
دا به واړه شی تمام کاغذ به تور شی
نا تمام به وی که زر ځلیه داکار شی

د لته نو په صنعت التفات لوی ښښتن ته خبره اړوی :

نه د خیال د عقل کار شته ستا و ذات ته
انبیا دي سر گشته پدا اسرار شی

وروسته بیرته له مخاطبه ، غایب ته ملتفت کیږی :

څه عجب خرگاه ئی روغ کړېی ستونه
پکښی نور کاروڼ ... چی ئی رفتا رشی (؟)
څه عجبه فرش ترو لاندی غوړولی
بیا پر جوړ ، جبال ، اشجار ، دریا ، ثمار شی

د يرتا ثير ئې په آفتاب ،مهتاب کې ښي
هم له نوره ئې روښن ليل و نهار شي
دادی له دغې قصيدې څخه د نعت يو څو بيته :

محمد ئې کړ پيدا له خپله نوره
عرش و فرش ئې کل روښن پدا انوار شي
دی سلطان دی اولوالعزم دانبياوو
د آدم او دحواپرې افتخار شي

قصيده خواوږده ده، دلته نوره نه ځائيږي . مقطع ئې په شاعرانه ويار ختمېږي ،مگر ښاغلي لوستونکي په ذوقي توگه داتياکلای سي، چې گوهر خان به په دغه افتخار کې څونې برخه ولري ؟

ښه يې وپېل گوهر په تارد نظم
آفرين دې پدا هسې شان اشعار شي

(د قلب السير له خطي نسخې څخه)

ترهغه ځايه چې د گوهر خان نظمونه او نثرونه ليدل سوي او پيدا سوي دي، موږ ده ته دخوشحال خان په شاعرانو او ليکوالو زامنو کې دريمه درجه ورکولای



سوای ، ځکه چې د ده په تخليقاتو کې هنري ښکلا او شاعرانه لطافت لږښکاري ، او په فني لحاظ ئې ناظم بللای سو، نه شاعر .

د گوهرخان د وفات نيټه نده معلومه ،خود قلب السير له سريزې اودده له وينا وو څخه ښکاري چې په ١١٢٠ ه ق کال سپين ږيری او د کورنۍ مشرو . خپل وراره افضل خان ته د کشر په خطا بونوسره دعاوې کوي ،اودده توفيق د قوم اوژبې په خدمت کې غواړي .

## کاظم خان شيدا

کاظم خان شيدا دختکو د کورنۍ د ادبي گلستان وروستنۍ گل ،اود هغه آسمان آخرنی ځلاند ستوری دی . دی دخوشحال خان کړوسی او په څلورپښته د خپلې کورنۍ د ادبي رواياتو حامل ؤ .

کاظم خان پداسې محيط کې پيدا او لوی سوی ؤ چې نيکه او پلار او تول ترېرونه ئې شاعران او ليکوال اومؤلفان وه او لد غسې ادبي چاپېره حتماً په ټولو ادبي رواياتو او فني عنعناتو خبرسړی راوزی .

اما د کاظم خان په شاعرۍ کې چې غزل ئې لويه برخه

ده ، یوراز لفظی او معنوی بدعت ښکاری . ځکه چی ده دفارسی ادبی تعا بیرو او د عربی په غریبو الفاظو راوړلو کی دا سی افراط کړی دی چی یقیناً ئی دده شعر دپښتو له ادبی معمول سبکه لیری کړی دی .

دکاظم خان ددی فکری اولفظی تحول د تحلیل لپاره سوږ مجبوریو چی د ده دژوندانه محیط او د عصر ادبی جریان وڅیړو اووئی گورو .

دشیدا دژوندانه دوره دهند دمغولو د آخرنیو سوگلیو وخت دی . دده سخی ته دفارسی دسبک هند مقتدرو استادانولکه کلیم اوعرفی اوفیضی اونظیری ښکلی تخلیقات پراته وه ، مگر هم پدغه عصر کی دسبک هند افراطی شاعرانولکه بیدل او ناصر علی دعصر پر ادبی جریان دروند تسلط درلود ، چی دغو استادانو په فارسی ژبه کی دتعبیر اوادا اوموشگافی اونزاکت آفرینی او شاعرانه تلازماتو او استعارو یونوی ور پرانتی ؤ . حتی چی ځینو یخو دفارسی ادب استادانو دغه جریان کورت بدعت گانه اوسخت ئی غندنه .

محمدعلی حزین چی له فارسه هندته راغلی د ادب



منلی استاد ؤ . د دغه جریان داسی مخالف ؤ چی ده به ویل : که زه بیرته وطن ته ولاړ سم ، نود خپلو ملگرو او دوستانو دخندا اوملنډو لپاره دناصرعلی ترکلام بل بهترین شی نسم وړلای .

مگر میرزا عبدالقادر بیدل چی یقیناً دخپل عصر لوی پوهاند اوصوفی اوپوخ شاعر ؤ . دغه سبک ئی داسی مقبول اودمنلو اوسهلو وړ کړچی وروسته دغه استاد ډیر پیروان اوعقیدت مندان وموندل او یو خاص د ادب مکتب ئی و پرانت چی حقاً باید دده په نامه د بیدل مکتب وبلل سی .

په پښتو ادب کی هم دغه هندی سبک اغیزی وکړی اولومړی ملاحمید ماشو خیل مهمند د دغه سبک ادبی موشگافی او تلازمات دنظیری اوعرفی اوغنی په پیروی مگر په معتدل ډول پښتو ادب ته راوستل .

مگر دحمید استادی دغه ده چی د پښو د تعبیر قوت او رنگ اوجوله ئی پکی خوندی کړه او پدی کار کی ئی له بی ځایه افراطه ځان وژغوره .

اما شیداخود خپلی کورنی په فیوډالی کړاوکی

دسیاست ښکارسو اودعمر اکثره برخه ئی په کشمیر او هند اورامپور کی له وطنه لیری تیره کړه او دسبک هند سره مستقیماً مخامخ سو او د هند د ادبی جریانه ښخه ئی درنی اوسیده اغیزی قبولی کړی .

نوکه د ده په شعر کی موږ یوډول بدعت اوافراط کاری او دسبک هند دآخرنی عروج نخښی وینو، دی به ډیر نه گرموو، ځکه چی محیط خوحتماً دشاعر په فکر او سبک کی اثر کوی او پخپله شیدا هم دې نکتی ته ملتفت ؤ، چی وییل به ئی :

که نکات می عجا یب دی عبارات می غرایب دی
خاص په حسن د کلام وی د معنی دقت ئی عام وی
خالی نه وی له صنعته عاری نه وی له رفعته
په لوسته ئی ابتهاج کړه آفرین می په مزاج کړه

رښتیا داده چی شیدا دفنان ذوق او مضمون آفرینی قریحی خاوند ؤاو ده په پښتو کی هغه کار کړی دی چی بل چا نه ؤ کړی .

نولکه په فارسی کی چی دحضرت بیدل تخلیقی ادب خاص مقام لری اوحتی مخالفین ئی هم د فکری یوی



خاصی ذخیری په ډول منی اودغه گران بها پانگه نسی هیر ولای ، دغسی هم دشیدا شعر ،او په خاص کړه بیا غزل ئی د پښتو یوه خاصه او خوندوره پانگه گڼل کیدای سی .

دشیدا پرشاعری باندی څیړنه اوږغیدنه ډیروخت غواړی . خو دلته زما د دی څیړنی سره یوازی د ده قصیده اړه لری . ښاغلی بینوا څو کا له مخکی دده دیوان ترتیب اوچاپ کیء چی فقط دشیدا دوی قصیدی لری اویوه ئی نژدی دوه سوه بیته ده.

د دی قصیدی تشبیب دمنظر نگاری او دشاعر د نکته آفرینی یواوږه مجل دی، چی داسی پیل کیږی :

بیا تحویل شو دحمل گوره آثار
شگفته په هر طرف تازه بهار
څه بیان وکړم د گلو له افراطه
یا انواع کړم د گلونو درته شمار
یاچه چه د عندلیب په ښاخ د گلو
یا جلوه دروان آب په سبزه زار
یا خوبی په هر طرف د خرسیه
سرسبزی د باغ وراغ هم دکوهسار

يا په سر د هر زلمي زيبا ګلو نه
يا په غاړه د خوبا نو رعنا هار

يا لهخيا له آشفته د دستارو لونه
بي شما له توري زلفي تار په تار

يا لبا س د دلبرا نو قسم قسم
يا يي تيکک په تور اوربل با ندي آشکار

يا يي دور د خلخال اود ځړيه
په خرام کي يي ادا د ژ رنګهار

يا نغمه دمغني په ښو ښو رنګه
ترا نه يي دشيدا ر نګين ا شعار

يا شوخي د رقا صا نو په ادا کي
يا ګرمي د حر يفا نو پخپل کار

يا هر دم با ده نوشي د ساقيا نو
منعد م وينمه هوش د باده خوا ر

داقصيده دشيدا فکري مجرا ښهراښيي چيد هندي ژوند نخبي‌يکي تصويرشوي اوداسي ښکاري چي‌شاعر د هندي بزم په رنګک پوره رنګيدلي ؤ اوهرڅه چي وينی اوهرڅه چي وايي ، ته وارغ يي د يوه هندي موشګاف



و يونکي ږغ دی. و ګوری، پدی بیتوکی شرری تخم او د بنفشی پمنځ ، اودغنچی پرده ، اود برقی شعلی ګرم بازاری اودګلو داور لمبی توله هغه ترا کيب او تعابير دی ، چی فقط هم د هندی سبک د آخرنی عروج په وخت کی دبیدل او ناصرعلی له خولی او ریدل کيږی . خو دنورو په غوږو کی داسی ږغونه حقيقتاً غرابت اووحشت لری ، اود محمدعلی حزين په تعبير فقط دخندا او ملندو وړ دی . شيدا په دغه قصيده کی وايی :

دغنچی له پردی مخ د ګل ښکاره‌شی
دعروس غوندی په‌ډير زيب وسينګار

چی په‌سر لکه شعله يی حوا له شی
پس شرر د ګلو تخم کړ ګل کار

توری زلفی يی پريشانی په‌سباشوی
شانه هيڅ د بنفشی نده په کار

پريشانی د ګل خرمن کړ ګل فروشو
که‌د برق په‌شعله ګرم‌دی بازار؟

په لمبه يی لکه دود د بهار ا بر
افروخته په باغ و راغ د ګلو نار

د هندی نخا یو منظر داسی تصویر کوی، چی د دی فن کمال دی، خو رنګ یی داسی هندی سوی دی چی له پښتنی ذوقه او د پښتو له تعبیره ډیر لیری ښکاری:

خرخ وهل ددل آرام دی راته وایه
که فلک دی نن زما په کام دوار
په رنګین قالین رفتار کوی د رقص
که صبادی په ګلشن کاندی ګذار
حنا یی قدم چی اوس په قالین کیږدی
د کاشان اهل صنعت شه ځنی زار
په صفا یی د لقا قالین مرآت شی
د توتی نقش ګفتار کا ندی چغار
په صدایی د هر زنګ او د کنګرو هم
هر نفس د شاهد باز خاطر افګار
د مهتاب په چپ وراست په پیش وپس هم
لکه خاص شی کواکب په انتشار
د سیم تن په هر طرف افراط د نقد
چی حاصل یی وی د فن کامل عیار



شیدا تر دغو موشګافیو او صنایعو ورو سته ځینو اخلاقی مطالبو ته ګریز کوی، او خپلی قصیدی ته د پند او موعظت رنګ ورکوی. مګر له ته هم منفی او فراری فلسفی ته هغه کوی، چی دا هم د هند د روحانی محیط او دده د ژوند د اوږدو محرومیتونو نتیجه ده، وایی:

د دنیا اوج لړلی په ډیر غم دی
لکه کښېنوی عاصی په سر د دار
اعتماد ئی هیڅ په دادو ستد نشته
کچیازی ئې ده په مثل د قمار
انقلاب د زمانی تند سیلی ده
چی په هند ئې وو راغلی د ندو کار
طاؤسی تخت ئې په شاهان د ږمی واخیست
بیا ئی نیر کړ تر کابل او قندهار
خپله خونه لکه مرغ د پیرکاه کړه
چی محتاج نه شي په عمر د معمار

دشیدا دا فکری فراری اړخ خو اوس زمونږ لپاره اخلاقی سرمشق نسی ګرزیدلای. مګر دده ادبی زیار او

رنګا رنګ مضمون آفریني او نوي تعابیر خو زما په خیال پښتو ادب ته د یوې پانګې په ډول ډېر غنیمت دي، او که ده څه بدعت کړی وي، نو هغه به هم د بداعت حسنه په شمېر کې راتلای سي، او دی به د ادبي شریعت په حکم په دې خپل کړاو کې مأخوذ نه وي.

ځکه په ژبه کې باید تل د توسیع او ارتوالی وسایل موجود سي، او د هر راز تخیل د تصویر لپاره الفاظ او تعابیر ولري. نو د مرحوم شیدا سخنګوئي چې د پښتو په بڼارکې د سوسن ژبه سرمه سا په کوله پرخپل ځای د قدر وړده، او موږ د شیدا زیار او مېښود د پښتو ادب په تاریخ کې کوربت نه سو هېرولای.

د سوسن ژبه حیرت کړه سرمه سا په
چې شیدا په دا بڼار کې سخن ګوی شو

شیدا پیاوړی آرتیسټ وو، خو افسوس چې دده دآرټ ذوق له خپله محیط لیری د هند په ځمکه کې پرورښت وکیء، او هندي ادا کارو په دې ساده پښتون نوري چاري وکړې دي په خپله وائي:

په هندي ادائي وکړي په ماچاري
زه شیدا په زړه ساده د روه افغان یم

## پنځم څپرکی

# دنورو شاعرانو قصاید

## دخواجه محمد بنگښ قصیدې

دیوولسمې هجرې پېړۍ دغه نازکخیاله او تکړه شاعرسوړ هغه وخت وېږاند، چې دده ۲۴۵ غزلې او شپږ قصیدې راورتې پښپل کتاب گلشن روه کې په ۱۸۶۰م دانگلستان په هرتفورډ کې چاپ کړې، او بیا فادر هیوز په کلیدافغانی کې هم ځای ورکړی (دلاهور طبع ۱۸۹۳م).

کله چې په ۱۳۱۹ش کال ساد پښتانه شعراء لومړی ټوک سره راټولاوه، نو سې دبنگښ پراحوال او شاعری باندې فقط د گلشن روه او کلید افغانی په حواله لیکه ولیکل، خو ورو سته دده دد یوان یوه خطی نسخه

دمردان د پښتنو یوه ښوه ښاغلی حبیب الرحمن ما ته راولېږله، چی تراوسه راسره پرته ده، خوچی په ۱۹۸۵م کال د پېښور پښتو اکاډیمی د پریشان خټک دمقدمی سره چاپ کړه.

خواجهمحمد دخوشحالخان دزماني سړی دی، چی هم دشاه جهان او بیا داورنگزیب معاصر گڼه سی پخپله وایی:

هسی خوښ دتخت دپاسه خورم نهدیء
چیعاشق دستا پهدرکی خوښخورم دی

(دديوان۹۳)

خورمخو دشاهجهان نوم دیء چی په ۱۰٦۸ ه ق کال خپل زوی له تخته راوغورځاوه.

پهبل بیت کی خپل معاصرت داورنگزیبه سره هم داسی ښیی:

داورنگ په پاچهی کی می نیسا و نشی زه خواجهمحمد پهووزم و بل لوري ته نوسوړ ددء دژوندانه حدود له ۱۰۳۰ څخه بیا تر ۱۱۰۰ ه ق پوری تا کلای سوای.



دغهمطلب پهلاندی دلیل هم تینگیږی، چی ښنګبن پهچشتی صابری طریقه کی دمیا عبدالرحیم مرید و اوددې سړی پلار میاعلی دشیرپاو او میدو نکی بیا داکبرپوری داخوند پنجو مریدو، پخپله وایی:

چیساکن دچشتیانو په سریر دیء
شیخ حضرتعبدالرحیم زموږه پیردیء

داخوند پنجو بابا دمرگ کال ۱۰۷۳ ه ق دیء (خزینة الاصفیاء ا-۷۹) نو ښنګبن پهدرووسیلو داخوند پنجودطریقت پهسلسله کی داخل ښلل کیږی.

دخواجهمحمد ښنګبن غزل خوپه لفظاو معنی کی دهنر ښکلا لری، هم ئی قالبونه ښه دی، هم ئې محتوی ښکلی ښکاری. د تصوف په رنگ کی عاشقانه غزلی لری چی کلهکله په اخلاقی او عرفانی گڼو هم پسولګی سوی دی، لکه دزړ ونونه ماتول (نه آزارول) چی شاعرانو راز راز مضمون آفرینی پکی کړی دی خواجهمحمدبي پهدې بیت کی څنگه په یوه حسی تشبیه سره تلقین کوی:

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دی
بیا مشکل دی ، رغول د شکسته وو

په دې بیت کی دجناس او استعارې او تضاد اقسام ښکاره ځای سوی دی :

ګوتی توری کړې په ماتې کړی راپوری
زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تور ته

دنباغلی پوهاند رشاد په حساب ددی خطی دیوان ۱۸۱۳ بیتونه او ګرده ۱۴۲ غزلی او ۳۱ قصیدې لری (ورمه ۲ ګڼه ۳۴۸ ش) او دغه نسخه چی په ۱۳۲۰ هق د حمیدالله په بدخط کښلې سوې ده ، ډیر نواقص او ادبی عیوب هم لری ، چی سړی ورته اریا نیږی . ځکه چی دخواجه محمدځېنی غزلی خوند ده پښتو ادبی استادی او پر لفظی او معنوی ښېګړو باندی احاطه څرګند وی مګر ځینی غزلیات او قصاید ئې عروضی نیمګړی هم لری چی په عروضی اصطلاح ئې خرم بولی .

او دځینو بیتونو ضروری هجاوی ئې کمی دی ، یعنی پڅ پڅې کړی بیتونه لری .

داسی ګمان کېږی ، چی دغه په دکاتبانو ګناه وی چی دده دځینو بیتونو برخی یی ورپرې کړی دی .

دده له یوې اوږدې قصیدې څخه داځو بیته و لولیء چی دشاعرد هنری کمال ځلا ځنی ښه ښکاري :



زړه راڅخه وړی دی جمال دچشتیانو
سرې سترګی ، سرې شونډی مجذوب حال دچشتیانو
واړه شهبازان دلامکان سیرونه کاندی
هسی رنګه تیز دی پر و بال دچشتیانو
پټ په زړه کی تل لکه لاله وینه د زړه خورم
نښته دی په ژبه ، قیل و قال دچشتیانو
داځه سپوږمی نده ، چی ځلیږی په آسمان کی
ځلای په آسمان کی ، دآس نال دچشتیانو
زړه به ددردمنو لکه ګل پرې وغوړیږی
ګله به راوالوزی شمال د چشتیانو
هیڅ و رته څرګند شوه د دنیا واړ شالونه
هرچی ئې اغوستی ، شړی ، شال دچشتیانو
سرومال به ور کړم ، که یوه زره ترې راکه
دك جامونه ګرزی مالامال دچشتیانو
واړه ښایسته په مثال ستوری داسمان دی
ما پکښې موندلی دی هلال دچشتیانو
(ص ۸۲ خطی دیوان)

قصیده اوږده ده ، او سړی دشاعرد استعداد ښنا ئې

پکی لیدای سی ، خوتو له د یوه مخلص اراد تمند له زړه را وتلی کلمات دی ، چی دنوروپه دردنخوری .
خواجه محمد د تلقین اووعظ وپند قصیدې هم لری چی دکلام قوت اور وانی یی څنی ښکاری ، دادمنا یی غوندی زهدیات دی ، چی دشرقی ادب یوه لویه برخه گرزیدلې ده ، لکه دا قصیده :

دد نیا عمردی تیرکه بیهوده
که شپیته و ، که اتیاو ، که زیاده
بختورو له د نیا فایده یووړه
تا بی زیانه هیڅ ونکړه فائده
دمجلس یاران همه درڅخه لاړه
نظرنه کړې ، په رنو سترگو اوده
پهسړی باندی چی غم پریوزی خوب نکه
ته چا رهاېې ، که سړ ی آدم زاده ؟
پلار ، نیکونه دې همه پهمرگ تمام شوه
خلاص به نشې یک تنها علاحده
زنده سربه په د نیا کی پاتی نشی
چا اخیستې ده غافله ! ستا هوده ؟



پهپیری دی ږیره سپینه شوه ، سلا تیته
لاترکوسه به پا یږې جکه زده ؟
ستا شپیته کلونه تیرشوه ، زوړ بوډا شوې
تهلاځان گڼې تراوسه چهارده
کهعاقل یې د نیا پریږ ده قلند رشه !
فقیران په دواړه کونه آزاده
د گمانپرده دې لری کړه لهمخه
رضا کیږده دصاحب په اراده
دمغان ددروازې ددرخا دمشه !
چې دعشق لهجامه درکاندی باده
دازاهدانه قصیده پهمناجات داسی ختمیږي :
هدایت وکړه وماته یوه خدایه !

چې وتاته ځم پهسم لار رسیده
مابد وکړه زه بنده یم بې ادبه
ته بخشش کوه پخپله قاعده
گناه کار خواجه آزادکړه غنی خدایه
غنیان تل آزادوی زاړه برده ..
(ص ۹۲ خطی دیوان)

په دې قصیده کی د عشق او مینی د سوز دنیا ځینی اسرار او دردونه یا خوندونه او شواخونه څرګند وی او داسی ښکاری، چی دی پخپله په عینی ډول له دغو وارداتو سره آشنا و:

عاشقان نظر په مخ د قمر نکه
بې له یاره و بل مخ ته نظر نکه
شپه و ورځ د ده په فکر مستغرق وی
غیر فکر (ئې) په زړه کی ګذر نکه
نور عالم چی سپوږمی وو ینی اختر که
عاشق بې د یار له مینی اختر نکه
هغه لاف د عاشقی کا په دروغو
چی بلبل غوندی فریاد په سحر نکه
د هجران اغزی سیخ دی په پهلو کی
عاشقان بې غمه خوب په بستر نکه
پروانه له بلی شمعی نه جار وزی
څو آخر پری دری دړی بشر نکه
که یار سرورڅخه غواړی ترې (ئې) ځار که
هیڅ د سر په پریکولو خطر نکه



عاشقی د تن پروورو خلقو نده
خر، تتو به خدای د آس برابر نکه
په خوله تشی لافی کا د عاشقی
معشوقه چی ورته وایی اثر نکه
که هرڅو ورباندی کا، ناځاری چاری
عاشقان د یار له جوره حذر نکه
مستغنی د قناعت په خزانو شی
جستجوی د دنیا دارو په در نکه
همسفر هم یې مقام دی پخپل کور کی (۱)
و بل لوری ته هیڅری سفر نکه
که په هر و پښته یې وی هزار هنره
بې له عشقه عارفان بل هنر نکه
دعشق تاج به د هغه په سر حرام وی
چی د یار د پاره خاوری په سر نکه

(۱) سرا دد نقش بندی صوفیانو سفر در وطن دی، چی صوفی پخپل نفس کی یون کوی، او خپل باطن تصفیه کوی او ځان پېژنی.

په دالاری د پر خطر دی لار به نشی
څوچی توره د اخلاص په کمر نکه

له دې غمه به هر گز بېغمه نشی
څو گردن د غلیم غوڅ په خنجر نکه

دعاشق نامه به کله وی پر روغه
څو په سرو لنبو کی ځان سمندر نکه...

بحر و بر ئې د واړه بیا سونده په کور کی
عاشقان سفر د بحر و د بر نکه

د تهمت له ناپاکیو به خلاص نشی
څو پنا ه ورته د صبر سپر نکه

که تندی په د واړه لاس وهې له غمه
نور به کښلی د محفوظ دد فنر نکه (۱)

پر یوه نظر ئې زړه را څخه یوور
یار و ما ته نظر بار د یگر نکه

(۱) یعنی د لوح محفوظ کښلی به نور نکړی او تبدیل به ئې نکړی .



پرهرو نه می د زړه واړه زون(۱) شوه
طبیبان می هیڅ علاج د پرهر نکه

زه به یارپسی په غلا ژاړم له خلقه
چری نه وی چی رقیب راخبر نکه...

ما به سرله تنه غوڅ د رقیب پریکړ
ملگری را سره چرخ اخضر نکه

آه فریاد کوم له درده سره ژاړم
د آه غشی ءمی هرگز پرې اثر نکه..

دخواجه محمد که سرځی، لاړ به نشی
څو یوه بوسه یار د د لسره ور نکه

( خطی دیوان ۷۰ )

دا وې دخواجه محمد د قصیدو یوڅو نمونې، چی د لته را غوره کړې سوې .

ښاغلی لوستونکی که دغه دعشق او زهد بیا نوونکی قصیدې ولولی، او بیا ئې دده دغزلو سره پرتله کی

(۱) زوی : هغه دوینو سره گډی او بهچی په زخم کی وی . زون : هغه پرهارچی او به واخلی او زوی کوی.

نو په دا له وراېه ورښکاره سی ، چی غزلیات ئې ډیر ښکلي او مستانه او لطیف دی ، خو په قصیدو کی ئې د زاهدانه تقشف ډیری اغېزې لیدلی کیږی .

موږ په خواجه محمد په دې واعظانه قصیدو او مریدانه وینا و و نه کړو ، دی دخپل عصر د روحانی فضا نماینده گی کوی ، او دغه کیفیت د دغه عصر په اکثرو هنرمندو شاعرانو لکه دعبدالقادر خان او گوهر خان او نورو په وینا وو کی هم سته .

لنډه ئې داده : که موږ د خواجه محمد دځینو غزلو طراوت او ښکلا او مضمون آفرینی او بیا دځینو قصیدو واعظانه ډول یا د مضمون او چتوب گرده سره را ټول کو او ده ته دپښتو نورو شاعرانو په کوم پوړ کی دد رېدلو ځای وټاکو ، نو به په متې د هجری او عبدالقادر ځای ته ورسېږی .

وگوری : د بنگښ د غه د وعظ او زهد مطلبونه که د غزل په قالب کی توی سی ، نو د اسې گټوره ، ښکلي او مؤثره وینا ځنی جوړ یږی :



چی با زار له خالی لاسونه د روسې  
اتکل نه کیږی چی سود به ځنی راوړې !  
ته د وړاندی ځې ، دنیا دې کړه دوروستو  
په تورتم کی مشال ولی پس شاوړې ؟  
عاقبت به یوه ورځ د ر ځخه مات شی  
که هر څو په احتیاط لوښی متیا (۱) وړې !  
چی دی تخم پر پټی کر لی نه وی :  
دغلې په وخت به واخلې ځنی خاوری  
نصیحت و بل ته کړې خواجه محمده !  
ته ئې ولی دخپل زړه په غوږو ناورې ؟

( خطی دیوان ۱۴ )

## دعلی اکبر اورکزی په گلشن افغان کی قصیدی

داتحاد جماهیر شوروي دارمنستان دجمهوریت د مرکزی بنا رایروان په کتابخانه کی یو ډیر خوشخطه او ښکلی او منقوش او مذهب (طلا کاری) او مصور دیوان سته ، چی په هغه کتابخانه کی ئې نمبر ۵۳۸ دی .

---

(۱) متیا : له مات ځخه صفت دی ، یعنی ما تی قبولو نکی لکه بسیا ، الگیا او نور .

نه پوهیږم چی د غه قلمی ښکلی او مصور نسخه څنګه له پښتونخوا او کشمیره ارمنستان ته ورل سوې ده؟ ددې نسخې یو مایکرو فلم د کابل په عامه کتابخانه کی سته.

د نسخې خط ښکلی نستعلیق دی، او ځینې مصور مخونه هم لري د تصویر او تذهیب سبک یې کشمیری او متأخر دی. خو د ښکلا اورنګ او تصویر او تذهیب اتکل یې تور مایکروفلم کی ښه نه کیږي او فقط دو نی ښکاری چی یوه ښکلې او ښه خوشخطه نسخه ده. علی اکبر په قام اورکزی دی، دا پښتون قام په تیرا او د کورمې په سیمو کی له قدیمه اوسی او دا هغه وادي ده، چی تر اسلام دمخه د کوشانیا نورو ستنې شهزاد ګانو او د کابلشاهانو په لاس کی وه، او اکثرد هندوستان تجارتی کاروانونه او فاتحانو لښکر به له د غو سیمو تیریدل.

کله چی امیر تیمور لنګ په ۸۰۰ ه د هندوستان د نیولو له پاره له دغو سیمو څخه تیرید ی، د دې ځایو مشران شیخ احمد، خواجه اوغانی او ملک محمد اولشکرشاه او غانی او شیخ عبدل وو (۱) اومؤرخان ددی ځای دا یر یاب اوشنوزان دریادوی، چی هلته یوه اوغانی قبیله اورکزی اوسیده.

(۱) ظفر نامه ۲-م-۳ - ۳۷



له دې تاریخی سنده ښکاری چی اورکزی اوغانانان او وه اته سوه کاله دمخه لاهم په دې ځای کی اوسیدل (۱).

علی اکبر اورکزی له دې ځا یه د ۱۱٦۵ ه ق په حدود کی هند وستا ن ته تللی او په اکثروبا روګر زید لی دی دده وظیفه غالباً عسکریت دی، خو په پښتواو دري ژبو ښه شاعراو لیکوال هم ؤ. دده دیوان مردفی پښتو او پارسی برخې لري او یو سنی مذهبه حنفی اود نقشبندی طریقې پیرو باذوقه او ادیب پښتون ښکاري. د خپل دیوان مقدمه یې په دری داسې لیکلې ده: «سپاس وستا یش بی پایا ن و حمد و ثنای فراوان، مرمتکلمی را سزا وار است، که زبان هر حامد به چندین لغات مختلفه گویا گر دانید، و هر قوسی رامعنی لغات تازی و دری (۲) واقفا نی دا دا بعد ... این فقیر احقر مولای سید بشر، علی اکبر بن قاسم خان اورکزی قوم افغان ساکن تیراخیبر، درحداثت سن و آوان طفلی، که طبیعتش ما نند کف مفلسا ن، از نقد فن شاعری عار ی

(۱) روزنامهٔ غزوات هندوستان ۸۰ دپترو ګراد طبع ۱۹۱۰ ع په دې کتا ب کی دا قوم غلط اورکزنی (؟) چاپ سوی دی.

(۲) ددری دلامه استعما ل دلته د پارسی په ځای دغور و ړ دی.

بوده. . . به فرمایش سلطان شوق به تسوید غزل چند ، بزبان افغانی که محاوره املاف و مانوس الاستعمال بود، چند صفحه راسیاه ساخت و براقعات متفرقه مرقوم شد . . . بعدازان درعنفوان شباب درتعلیم وآموختن این فن نزد اکثری ازاولوالالباب سعي وفو ربکار برده... وچون این گلدسته مشتمل برازهار الفاظ رنگین و متضمن اشعار معانی شیرین است ،به اتقای حضرت یزدان به «گلشن افغانی» موسوم گشت...

## د گلشن افغان لومړی غزله

زړهمی بل هغه دلبر په اور دغم کا
چی سی ورکړی په دغه اورد سترګو نم کا
هسی ما غوندی بی دپر عالم خراب کړ
کړ شمه و ناز پیشه چی دی صنم کا
د عالم په باب ژولدی له سرو بترم
که هوکث شما رز ما په عین د عالم کا
سرو مال تا لا کوی پر وابی نشی
که جهان سره برهم په یوه دم کا
لکه دی کاندی دهرعاشق په باب کی
دازل حکم په لوحه ، له قلم کا



په دغه ساعت بی زړه له ماله یو وړ
اوس په خلپه خلا الکار راوړی قسم کا
دسپین مخ په عکس هرشی ته به گوري
د مضمون په نمایش بي جام د جم کا
هر ساعت به د یار ذکر کا په ژبه
که «اکبر» د زړه دزخم هوک سرهم کا

اکبرد هند په بهار وکرمحدلی ،اوهلته هم دپښتنو سره محشورو اوله هیواده بی خپل سلامونه د وطن یارانوته را استول . دی په یوه اوږده قصیده کی خپل یاران یادوی. چی هوبهته بي دادي !

یا ده والو زه وطن ته په رفتار شه
دهر چا له حاله بیل بیل خبر دار شه
لکهنو له ښاره کوچ وکړه یها وته (۱)
په کتهیرو پښتیا نه باندی گذار شه
دسردار سرفراز خان پرسش لازم دی
چي خپښتن بي همیاورهم مددگار شه

---

(۱) کوچ بهار دهند یوه سیمه ده ، او دلته د کوچ په معنی کی یو راز ایهام موجود دی

د حاجي اخون په قبر دعا وکړه
د یوسف په‌حال دانا او خبردار شه

وروسته د پېښور دسیمې ځینې یاران یادوي او دمیاعمر څمکني دو مزامن
داسې ستایي: کشر میان ته په دوه لاسه تعظیم وکه
محمدي صاحب ته هم په تعظیم پا رشه

د اکبر سلام په هر چا پاندې وایه
په د عامې یادوي . چې برخوردار شه

اکبر چې د تیرادغرو او ښو خوشنوا بلبلو ، په هند کې له ژوندوله
په عذاب شوی ، او خپل وطن یې داسې یاداوه :

نور توبه مې له پنجابه هم له هنده په‌نصیب زما که خپل ملك ووطن شي
له دې لاندې بیته ښکاري چې په کابل کې هم څوعمر اوسیدلی دی :
چې خاطر مې دې بندي په تورا وربل کې
ځکه نه مې شي استوګه په کابل کې

اورکزی د پښتو شاعرانو له کلامه سره اشنادی، ډېر شاعران
یادوي، او خوشحال ختك داسې ستایي:

نور د شعر مزه مه غواړه له چانه ــ پوهنده د هر کلام ښه سخندان ولاړ
دخوشحال ختك ارمان به اکبر پوهې ــ چې دمیني داخلاص کان له جهان ولاړ



د اکبر په دري او پښتو اشعارو کې د ده د عمر ډېر وقایع
ذکر شوي دي ، دی په پښتو ژبه کې د متوسطې درجې شاعر ګڼل کېږي
او کله نا مانوس الفاظ هم راوړي.

اکبر په خپل دیوان کې شاه عبدالرحیم نقشبندي خپل روحاني پیر ستایي
او پل خپل استاد شاه معظم ښيي (۱) چې د هغه یوه موعظت نامه په
دري نثر هم لیکلې . په دې ډول اکبر اورکزی زموږ د ادبیاتو
د تاریخ د دوږ یو شاعر او لیکوال او باذوقه سړی دی ، چې د ده د غه
مستانه بیت د ده د ذوق ښه نمایندګي کوي :

---

(۱) پیر معظم شاه د پیر محمد فاضل زوی د پېښور د پیر سباك
اوسیدونکی و ، چې په هند کې د حافظ رحمت خان بړیڅ په خدمت کې
داخل ؤ ، او د ده په خواهښت یې د خواجو سلیزي د پښتو تواریخ
افاغنه د تواریخ حافظ رحمت خاني په نامه په ۱۱۸۱ ه کې لنډ کړ .
تاریخ افاغنه په ۱۰۳۶ ه ق په پښتو لیکل سوی ؤ ، دا کتاب د خښبي
او غوري او یوسفزي قبایلو تاریخ دی ، چې اووه مقاله لري د پیر روښان
او د ده د مریدانو حال هم لري تاریخ حافظ رحمت خاني په ۱۹۷۱ ع
کال ، او خلاصة الانساب د حافظ رحمت خان تالیف په ۱۹۷۳
ع کال د پېښور اکاډمي چاپ کړي دی .

هرساقی چی د طرب پیاله که پورته
میخوا ران په واړه و دانګی دي لوړته

اوداغزل دخواجه محمد بنګښ دهغی غزلی جواب دی، چی یو ښکلی بیت یی دا دی !

کوټی توري کړه په سا یې کړه را پوري
زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تورته

داورکزی دیوان قصیدی، غزلی، مثنویات، ترجیع بندونه او رباعیات لری ـ دشعر قالب او محتوی ئې دواړه کومه خاصه ځیګره نلری، په دوهمی درجی ناظمانو کی دریدلای شی. کله کله عشقی، اخلاقی حماسی او صوفیانه مضامین دده نظمونو ته تنوع وربخښی خو قصیدې ئې اکثره د واقعه نګاری ډول لری، اودا هغه یوراز بیان دی، چی خوشحال خان اودده زامن هم کله کله دژوندانه دواقعاتو په څرګندونه کی کار ځنی اخلی، بې له دي چی ښه نظم دشعر په ښیګړو او هنری ګڼو ښکلی کی. مثلاً په یوه قصیده کی دخپلی زیږیدنی وخت داسی ښیی، چی فقط یو نظم دی، نه شعر:



زه چی راغلم په دنیا کی    له عدمه په ا ظهر
پادشاهی دنادر شاه وه    په عالم کی لکه لمر

په دی ډول دده د تولد نیټه د ۱۱۵۰ ه ق حدود ټاکله کېدای شی، چی د تیمور شاه تر زمانې پوری ۱۱۹۰ ه ق هم ژوندی وه؛

سن زر سل نوی وایه شه    چی له کوره شوم روان
(خطی دیوان)

په دغه قصیده کی بې له کومه تشبیبه رد یه پخپل حال داسی شروع کوی :

ثنا به وایم یو بو حال درته دځان
ته لی واوره په نامه د پاك سبحان
نوم دخدای او درسول می درته واخیست
څوك پري کښېږده که بنده یی د رحمان
دا خبره وه مشهور په عالم کی
هر څه وکړي، بیا ربي هغه شان

دلته وزن هم سپکېږی، او ناظم لي په بل ډول په هغه قافیه پسی ځی ؛

د نیکی عوض نیکی ده
بدی وی د بد خواهان
دچه خدای څه چه قدرت دیء
چی له چا نه شی بیان
چه ګاروله په قدرت ګا
دی پری چه رسی یکسان
های د ګفت وشنود نشته
په رضا د پاك یزدان
که له خاورو ګل پیدا ګا
یا له ګل پیدا خاوران
مدعا عرض خپل وایم
خوښ پری وئیسیء دوستان
د چه خدای له شفقته
هم له فضله د دیان
په کشمیر ګی وم حوګاله
و حاکم نوروالدین خان
په قسمت می نصیب (و) شو
چه د بدن د بزرګان



په زیارت د پیر مرشد می
خدای عطا کړدین ایمان ...

داسی ښکاری چی علی اکبر داورکزو مشرو، او په لښکری لامو کی به ئې د عسکری یاسلکی حکمران په څیر برخه ارله :

له وطنه را روان شوم
د لښکر و په سامان
لګ می کړ دخدای په فضل
په ګامراج کی خپل نښان
د سلطان اسانی وشو
په دښنه شولم ډیر ګران

د تیمور شاه له درباره حاجی کریمداد خان ( دکشمیر خان داحمدشاه بابا د دربار دعرض بیګی لمسی دکهندل خان زوی ) دکشمیر حکمران مقررسو او علی اکبر ورسره ملګری و ، خوچی کریمداد خان ولاړ ، نودی هم خپل وطن تیراه‌ته راغیء :

بل د ورسته می بخ راغیء
چی حاجی کریم داد خان

شو سردار کشمیر ئې واخیست
شوم امیرته لوی آسمان ...

امیر بیا شو په ځای پاتو
بیا رته لاړ کړ یم داد خان

زما هم دا ملک تر فهم
نها یت شو ، ډیر ویران

ځینې لاړ سه وطن ته
په فراق ، غوغا ، ګریان ...

علي اکبر دوه کاله په کورکی و، څو بیا تیمورشاه وغوښت ، اوداورکزو د لښکرو سره ئې په ۱۱۹۰ ه ق کال دکشمیر خواته واستاوه :

آخر بیا پس له سه ته
سلطان شو را پسی پښیما ن

په طلب ئې کړ ځان ستړی
هم سړی ئې خپل ستو مان

زما هم پرې خدای وار جوړ کړ
دا سی غوښته له سبحان



د لښکر سا مان سی ساز کړ
ښا یسته ، ښکلی سپا یان ...

چی کاسراج ته ورسیدیء ، نوئې جنګونه شروع سوه ، د یوه جنګ منا ظر داسی ښیی :

یوه ورځ له همه را غلو
په موړ با ندی د ښمنان

جنګ ترمیان شولو صاحبه!
د تو پکو ، د سنا ن

بیا په توره شوه تما مه
کل لښکر را ته حیران

ر فیقان ر ا څخه وتښتو
موړ ئې ړ ینبوو په ځا ن

بې له خدایه څوك مل نه و
یا مدد د وو بزرګا ن

که میدان یا رانو بای کړ
خو موړ بیا لګ کړ نشان ...

په دې ډول داورکزی قصیده په حقیقت کی د واقعه نګاری یوه نظم کړې اوبې خونده منظومه ده ، چی هیڅ

شاعرانه هنر کاری او د تخیل او لطافت او عاطفی رنګینیو څخه برخه نه لری .

اوس نو تاسی پخپله ووایاست، چی دی شاعر بولیء او که تش یو ناظم ؟

باید داهم وویل شی ، چی دده فارسی او پښتو غزلی دونی بې خونده نه دی ، لکه قصاید . سو ږ د ده په پښتو غزلو کی د ځینو غزلو نمونې د مخه ولوستلې ، او د پارسی غزلو د غه نمونه ئې هم ولولیء !

به مشتاقان رویت قصهٔ هرجا میتوان گفتن
حدیث حسن یوسف با زلیخا میتوان گفتن
چو احوال شهیدان ازطبیبان کس نمی پرسد
زبیمار نگاهت با مسیحا میتوان گفتن
فتاده نیم بسمل بر سر ره همچومن صدها
جفای ابرویش تیغ قضارا میتوان گفتن
چمن گل گل شگفته ازنسیم صبح نوروزی
زحال غنچه دلها کسی را میتوان گفتن
خراب بادهٔ لعل توشد امشب اگر بخشی
که حال اکبر بدست فردا میتوان گفتن

خطاط
روحاني رويا
دولتی مطبعه